# پر رسنیو د نامسلکیتوب اغېز

(مسلکیتوب د معیاریتوب پر لور)

---

لیکوال او څېړونکی : محمدخان ذهین

---

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




# پر رسنیو د نامسلکیتوب اغېز

## (مسلکیتوب د معیاریتوب پر لور)

**لیکوال: محمدخان ذهین 0781997120**

**خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک**

**چاپ کال: ۱۳۹۸ل/ ۲۰۱۹ز**

**چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**

**پښتي ډیزاین: فیاض حمید**

**چاپ وار: لومړی**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۵۵)**

د دې کتاب د چاپې، کاپي، انلاین او بل هر ډول خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي

برېښنايي پته: www.melitahrik.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**خپل درون پلار جان، عزتمندې مورجانې، خوږو خوېندو او ګرانې کوروداني ته، چې تل یې په دعاوو کې یاد ساتلی او په مینه یې پاللی یم!**

**خپلو ټولو درنو استادانو او مسلکي ملګرو ته، چې د دې اثر په اړه څېړنه او لیکنه کې یې مرسته راسره وکړه!**

**خپلو ټولو هم فکرو او مخالف فکرو ته؛ ځکه همفکرو هڅولی او مخالف فکرو مې بیا روحیه کې د مبارزې ځواک پیاوړی کړی.**

**م. ذهین**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو مسلکي گام

مسلکیتوب یو داسې اصل دی، چې په هر مسلک او کسب کې د نوښتونو، پنځونو او کېفیت لوړېدو لامل کېدای شي. هغه څه چې یو مسلکي شخص پخپل مسلک یا کسب کې پېژني او پرې پوهیږي، یو اماتور یې په اسانه نه شي درک کولای. د خوشحال بابا دا خبره چې « هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه » د دې خبرې ښه دلیل دی.

رښتیا هم انسانان د مختلفو ذکاوتونو لرونکي دي او رب هر چاته یو استعداد ورکړی. دا چې څوک له خپلې وړتیا څنګه او په څه کې کار اخلي، د شخص خپل انتخاب دی. پوهان هم دا حکم کوي چې د مسلک په انتخاب کې د شخص لېوالتیا خورا مهمه ده. په واقعیت کې همدا لېوالتیا په اړونده مسلک یا کسب کې د هغه د استعداد د لا غوړېدا او بالاخره د ګڼو بریاوو لاره هواروي.

ژورنالېزم د بشري علومو یوه داسې څانګه ده، چې له ګڼو اړخونو او له ګڼو نورو علومو سره اړیکې لري. معنا دا چې د دې علم زده کړه او بیا په عمل کې پلي کول اوږد مزل غواړي. دا د یو دوو کلونو او د څو مسلکي کتابونو په لوستلو نه خلاصه کیږي. یو ژورنالېست باید نه یوازې دا چې د دې پراخې حوزې د علمي او مسلکي زده کړې لپاره د پوهنتونونو او علمي مراکزو په چوکاټ کې درس ووایي، بلکې عملا څو- څو کاله له رسنیو سره دنده ترسره کړي، څو د مسلکیتوب له هر معیار سره برابر شي.

په رسنیز ډګر کې د مسلکي توب اصل له دې اړخه هم مهم دی، چې په مرسته یې د رسنۍ د بقا زمینه برابریږي. یا په بل عبارت د مسلکي اشخاصو شتوالي د رسنۍ د لوړ کېفیت نشراتو سبب ګرځي، لوړ کېفیت نشرات د مخاطبانو (لیدونکو، اوریدونکو یا لوستونکو) زیاتوالی تضمینوي او څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مخاطب د کمیت ګراف لوړېږي، نو هومره د رسنۍ بازار یا مارکېټ ښه کېږي.

په افغانستان کې تېرې دوه لسيزې د مطبوعاتو څرنګوالی د کمیت له پلوه بې ساری وو، خو د کېفیت او معیار له اړخه له ګڼو نیوکو سره مخ دي، مګر څومره چې مطبوعاتي ادارو کې د مسلکیتوب تله درنېږي، نو هومره یې کېفیت لوړېږي او د ګوتنیونې ځای کمېږي. دې کې شک نشته چې د هر کار پیل د خنډ او ځنډ لرونکی وي، د افغانستان مطبوعات هم له یوې اوږدې مودې وروسته داسې مهال بیا وټوکېدل، چې مطبوعاتي ټکنالوژي خورا پرمختللې او په نړۍ کې مطبوعاتي سیالي ډېره ګرمه شوې. په داسې یوه حالت کې د مسلکیتوب اصل ته پام تر بل هر وخته ډېر اړین دی. مسلکي ژورنالېستان خپلو مسلکي اخلاقو، ملي ارزښتونو او ملي ګټو ته په کلک تعهد د هېواد مختلفو رسنیو کې په کار کولو سره کولای شي، چې له یوه پلوه په داسې یو رقابتي حالت کې د افغانستان د رسنیو د بقا تضمین کړي او له بل اړخه پخپلو مطبوعاتي فعالیتونو د ځینو مغرضو بهرنیو رسنیو پر وړاندې د ملت د افکارو د منحرف کېدلو مخه ونیسي.

په ژورنالېستیک ډګر کې د مسلکیتوب اصل د اهمیت او څرنګوالي په اړه د ښاغلي محمدخان ذهین دا هڅه ځکه بې اهمیته نه ده، چې نوموړي د یو مسلکي ژورنالېست په توګه د افغانستان په رسنیو کې دا تشه درک کړې او د څېړنې او مطالعې په رڼا کې ځانګړې سپارښتنې او وړاندیزونه مطرح کړي دي.

د ښاغلي ذهین په عمر، علم او قلم برکت شه او ذوالجلال مو دې دا ارمان پوره کړي، چې په هره علمي حوزه او څانګه کې د داسې مسلکي او متخصصو اشخاصو لرونکي شو، چې له علم او فېضه یې ټولې نړۍ ته ګټه ورسېږي.

پوهنیار یحیی یعقوبي

د لغمان پوهنتون د ژورنالېزم پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مسلکیتوب د معیاریتوب لپاره

په بېرته پاتو او مخ پر ودې هېوادونو کې د ملي پرمختګونو په چارو کې د رسنیو او ژورنالېستانو ونډه یو ډېر مهم او جدي بحث دی.

ترسره شوې څېړنې ښیي، چې د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته غړیزو او چاپيزو رسنیو د بشري ټولنې په هر اړخیزو پرمختګونو کې ستر رول لوبولی.

هغه هېوادونه چې اوږدې جګړې یې تجربه کړي او یا اوس هم جګړه په کې روانه ده، سولې او بیا رغونې ته د رسېدو لپاره تر هر څه وړاندې ذهنیت جوړونې ته اړتیا لري؛ ځکه رسنۍ او ونډه یې سولې او بیا رغونې ته د رسېدو لپاره ډېره اړینه او اغېزمنه ده.

په رسنیو کې مسلک او مسلکیتوب په داسې یو مهم پړاو کې خپل ارزښت څرګندوي، چې بشري ټولنې په دغه ډول مهمو او حساسو پړاوونو کې مسلکي او اخلاقي تبلیغاتو باندې د خبرېدو ترڅنګ عامه پوهاوي ته اړتیا لري.

نن سبا چې د چاپي او غړیزو رسنیو ترڅنګ د انځوریزو رسنیو بازار ډېر تود دی، خلک اطلاعات او د خبرونو تفصیل، تفسیر او بېلابېل تعبیرونه ترلاسه کوي؛ رسنۍ کولای شي له دغې لارې د خلکو پاملرنه ځانګړو مسلو ته وروګرځوي. یوه موضوع مهمه او بله بې اهمیته کړي، خو دا کار هغه ژورنالېست کولی شي، چې مسلکي زده کړې ولري او په علمي او سیستماتیک ډول د عامه افکارو په مدیریت پوهـ شي.

دا کتاب چې د ځوان او تکړه ژورنالېست محمدخان ذهین څېړنه او لیکل شوی اثر دی، تر ډېره بریده یې مسایل په همدې موضوعاتو څرخي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوال په دې کتاب کې پر رسنیو او عامه افکارو مدیریت کې مسلکیتوب او نامسلکیتوب باندې تمرکز کړی دی. د کتاب په بېلابېلو څپرکو کې د مسلکیتوب اړتیا، د نامسلکیتوب بدې اغېزې او مسلکیتوب سره د نامسلکیتوب پرتله ییزه څېړنه شوې ده. د دې سربېره د مسلکي اشخاصو ځانګړتیاوې او لاسته راوړنې په ډېره ښکلې بڼه بیان شوي دي.

دا کتاب نه یواځې ځوانو ژورنالېستانو لپاره یو ښهٔ لارښود کېدای شي؛ بلکې د رسنیو خاوندانو ته هم په کې د پرمختګ او ښه والي لپاره ډېر څه شته، چې د مسلکي کسانو په استخدام کې ترې ګټه واخلي.

افغانستان کې چې د ژورنالېزم مسلک ته درناوی کمرنګه شوی او په رسنیو تر ډېره بریده نامسلکي خلک د اړیکو او مناسباتو له مخې ټاکل کیږي، په داسې موضوع څېړنه او د اثر لیکنه ډېره اړینه وه، نو ویلی شو چې دا کتاب د وخت او اړتیاوو پام کې نیولو سره لیکل شوی دی.

په ټوله کې کتاب یو مهم او ارزښتمند اثر دی، چې د رسنیزو فعالیتونو د یوې خاصې دورې د ارزونې او محاسبې له مخې لیکل شوی دی.

د کتاب لیکوال ښاغلي محمدخان ذهین ته د لا ډېرو بریاوو غوښتنه کوم او ځوانو ژورنالېستانو او خبریالانو ته د دې کتاب د دقیقې مطالعې وړاندیز کوم.

وما توفیقی الا باالله

محمد بشیر هاتف

د ژورنالېستانو شورا مرستیال او د ژوندون نړیوال راډیو ټلوېزیون د نشراتو رییس

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مسلکیتوب او بریالیتوب

ټوله کې د زنده گۍ تېرول دوه ډوله دي؛ یو منظم او بل یې غیر منظم.
دواړو چوکاټونو کې ژوند کوونکي خپل عمرونه خوري او په خوارۍ د خپلې زنده گۍ د پای لپاره شپې سبا کوي، خو د دغو دواړو ژوند کوونکو د خوند اخېستنې کېف بیا توپیر کوي.
د خوارۍ کار مزېدار او پایلې یې په خوندونو سینگار وي؛ ځکه خو په فکرونو بیا خومار بهار وار له مخه پرې په مینه د گل گوزار کوي .
دغه خوارۍ یې زنده گۍ لپاره د سکون لامل گرځي، چې زیارکښ کس په کې بیا لکه مرغۍ په شنې غونډۍ ناست خپلې شاعرانه ترانې زمزمه کوي.
بل یې غیر منظم خلک دي، چې په لوی لاس یې ځانونه د جنت په ځېر له ښکلي ژونده بې برخې کړي. د دوی په دغه ژوند کې هره وفا جفا او هره دعا یې خطاء بلل کیږي؛ ځکه اول سر نه چې خطر سره په هنر مزل ونه شي، د ژوند اثر کم او اکثره وخت له ستونزو سره په کې ټکرې رامنځته شي.
منظم والی دومره اسان کار هم نه دی، چې هر څوک دې پرې د خوند شخوند ووهي؛ ډېر تکلیفونه او شبگیرونه غواړي، څو ځنگل په بڼ باندې بدل شي .
منظم والی یواځې دا نه دی، چې یو څوک دې اوتو کړی لباس واغوندي او چپه کاکُل دې وگرځي.
د ښکلا د سلیقې اِطلاق په باطن او ظاهر دواړو باندې کیږي.
د منظم والي لپاره په ظاهر او باطن دواړو باندې کار په کار دی، څو د انتظار ترڅنگ له علم او هنر وروسته ټولنه کې د پیاوړي کس اعتبار خپل شي .
لکه مخکې چې مې وویل، د منظم والي په چاره کې بیا دومره ستر ځواک پروت دی، چې ځنگل پرې د بڼ ښکلی نوم گټي، خو هر څوک نشي کولای چې دغې چارې ته خپله پوزه توره کړي؛ ځکه له ځنگله بڼ جوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړپوهنې او مسلکيتوب ته اړتيا لري، چې پرته له مسلکيتوبه کېدای شي د ځنګل ونې ختمې او په کوم سپېره ډاګ بدل شي.

د تصور په ښيښه کې د مسلکيتوب اصل مخته راوړل او بيا چارې ترسره کول خلکو ته دا ځواک ببښي، چې د ډګر په لومړي کتار کې د برياليتوب سريندې وغږوي.

موږ چې نن سبا خپلو دندو کې لکه مېلمانه داسې زړهٔ نا زړهٔ مخته ځو، د علت يوه ريښه يې همدې نامسلکيتوب پورې تړلې؛ ځکه کله چې يوه برخه کې زده کړې او په بله برخه کې دنده ترسره شي، د ځواک اعتبار له لاسه وځي. بيا لويې څه چې وړې برياوې هم په اسانۍ نه شي ترلاسه کېدای.

له همدې امله خو نن د ژورناليزم ترڅنګ په ګڼ شمېر نورو مسلکونو د خلکو اعتبار کم شوی؛ ځکه دوی د يوې برخې په خبرېدو په ټوله مانا مسلک باندې د پوهېدو ټټر وهي، خو د مسلک له سمندري ژوروالي او اسماني لوړوالي ناخبره پاتې .

دلته رسنيو د کميت له پلوه ډېره وده وکړه، خو په کېفيت يې بيخي مرګ خپلې پنجې ښخې کړي.

د رسنيو ډېرښت او د مسلکي وګړو کمښت دغې ناروا ته زمينه برابره کړه، چې ډېری خلک د رسنۍ او ژورناليزم څخه زړه توري شي، نو زما په دې موضوع څېړنه او کتاب ليکنه له همدې امله وه، چې د خلکو منفي ذهنيت له سپېڅلي مسلک څخه لرې او د هغه اردو متل په بنياد، چې ((دودھ کا دودھ اور پانی کا پانی)) راښکاره شي.

له کله نه چې مې ژوناليزم برخې ته په مسلکي ډول مخه کړه، ترې وړاندې په ترسره شويو عملي کارونو کې ډېرو نيمګړتياوو ته متوجه شوم. هماغه وو چې ژورناليزم مسلک ته په راتګ سره مو د راتلونکو نورو زيانونو مخنيوي لپاره يوه ډله رامنځته او مسلکيتوب لپاره مو فکري کمپاين پيل کړ. دا چې د ژورناليزم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګر ډېره برخه نامسلکو اشغال کړې وه، زموږ دغه چاره د ډېرو په سترګو ښه نه لګېده، خو د ځینو مسلکي کادرونو او استادانو کورودان، چې بېلابېلو برخو کې یې زموږ ملا وتړله.

"پر رسنیو د نامسلکیتوب اغېز" کتاب لپاره مې څو کاله څېړنې، مرکې او مطالعې وکړې.

ما په عملي ډګر کې د خپلو هڅو سربېره د محصلۍ او ورپسې د استادۍ تجربې دغې کتاب سره ملګرې کړې. وروسته په ژوندون نړیوال راډیو - ټلویزیون کې د نیوز منېجرۍ له تجربو مې هم ورته ډېر څه ترلاسه کړل، خو د کتاب معیاریتوب لپاره مې دغو تجربو باندې د بسنې کرښه راکش نه کړه؛ بلکې د خپل هېواد له مسلکي تجربه کارو کادرونو ترڅنګ د ځینو بهرنیو هېوادونو د ژورنالېزم تجربه کاره استادان مې په بېلابېلو بڼو وپوښتل، څو د دغې کتاب د مالوماتو بډاینې لپاره خپله وجیبه ترسره کړم.

دا زما د چاپ شویو کتابونو له ډلې څلورم دی او ژمنه کوم، که ژوند او دغې مبارزې راسره یاري وکړه، ان شاءالله ډېر ژر به له چاپه پاتې خپل نور لس لیکل شوي کتابونه هم د چاپ په ګاڼه سمبال کړم.

تاسې به خبر نه یاست؟

زه له موره یو او د خپلو شپږو خوېندو یواځینی ورور یم، خو زه یې پایم او هغوی مې هم په دعا باندې ستایي.

زما د خپل پلارجان دا خبره له ورکوټوالي هېڅ نه هیرېږي، چې ماته په اشارې به یې خپلو دوستانو ته ویل:((یکه باشه تکه باشه)).

داسې نه وه، چې زه چا په شا کړم او تر دې ځایه یې راوستم، یا بل چا دا هرڅه راته برابر کړي وو او ما پرې خېټه واچوله .

ما داسې دوره هم تېره کړه، چې په کور، کلي، دفتر او ټولګي کې له ټولو ملګرو په څنډه وم؛ هېڅ راشه- درشه او ښې اړیکې مې نه لرلې. کېدای شي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

علت یې دا هم وو چې ما به خپل ملګري په تنبلۍ او ورانو کارونو رټل، تهدیدول، پیغور او تنبیهـ به مې ورکوله.

پرته له ځو هغو ملګرو چې زه یې درک کولم او زما هڅو ته په درنښت او مینې قایلېدل، خو ډېر غمونه مې پخپله لکه خپلې ترمې اوښکې پټې ځښلي.

لیکن له هېڅ ملګري خوابدی نه یم، زه اوس هم خپلو ټولو نېک خواهانو او بد خواهانو ته د درناوي په پار لاس په نامه ولاړ یم، وخت هر تخم تر خپلې ثمرې رسوي او دا خلکو ته ښایي، چې ځوک ارهر او ځوک نښتر دی؟

پای کې د خپل ګران پلار جان خوږې مورجانې، درنو خوېندو او نورو ټولو درنو معنوي پلرونو څخه منندوی یم، چې زما په اصلاح او روزنه کې یې هر ډول هڅې کړي او زه یې نن تر دې مرتبې ورسولم.

ستاسې دواړه جهانونه دې په ښکلاګانو او رڼاګانو وپوښل شي.

درنښت

محمدخان ذهین

د ژوندون نړیوال راډیو-ټلوېزیون د خبري څانګې مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**لومړی څپرکی ........................................................ 3**

هېواد کې د ژورنالېزم بنسټ ایښودونکی .............................................. 3

افغانستان کې د مسلکي ژورنالېزم پلار:.............................................. 9

د نسبي سوکالۍ یوه نیمه لسیزه او افغاني رسنۍ:.................................. 12

**دوهم څپرکی ........................................................ 17**

مسلکیتوب ته اړتیا.................................................................... 17

پوهه او مسلکیتوب:.................................................................... 17

اسلام کې پر مسلکیتوب ټینګار: ...................................................... 19

رسنیز ډګر کې د وړتیا  او ژمنتیا اړتیا:............................................. 27

فکري رغونه کې د مسلکي اشخاصو اغېز:........................................... 30

**درېیم څپرکی ........................................................ 34**

د نامسلکیتوب نیمګړتیاوې ............................................................ 34

الف: مسلکي نیمګړتیاوې: ............................................................ 34

ب: تخنیکي نیمګړتیاوې: ............................................................ 43

ج : ټولیزې نیمګړتیاوې:.............................................................. 46

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم څپرکی ........................................................ 52**

د نامسلکيتوب بدې اغېزې ........................................................ 52

الف : په مسلک د نامسلکيتوب اغېز: ........................................................ 52

ب: په کلتور د نامسلکيتوب اغېز : ........................................................ 56

ج: د ټولنې په اخلاقياتو د نامسلکيتوب اغېز: ........................................................ 64

د : د ټولنې په افکارو د نامسلکيتوب اغېز: ........................................................ 68

**پنځم څپرکی........................................................ 71**

د مسلکي او نامسلکي اشخاصو ترمنځ توپيرونه ........................................................ 71

**شپږم څپرکی........................................................ 79**

د مسلکي اشخاصو لاسته راوړنې ........................................................ 79

مسلکي افراد څوک دي؟:........................................................ 82

مسلکيتوب څنگه رامنځته کېدای شي؟:........................................................ 83

پايله........................................................ 87

**اخځليکونه ........................................................ 99**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## هېواد کې د ژورنالېزم بنسټ ایښودونکی

هېواد کې د امیر محمد اعظم خان او امیر شېرعلي خان د دورې نابغه سید جمال الدین افغان د ژورنالېزم او مطبوعاتو په برخه کې خپل لومړنی غبرګ پورته او د مبارزې په ډګر کې یې خپلې هڅې لکه تخم وشیندلې.

سید جمال الدین افغان کونړ ولایت کې د ساداتو کورنۍ سره تړاو درلود، چې هوښیار او عالم شخصیت وو. دی د امیر دوست محمدخان په دربار کې هم بلد وو؛ ځکه چې امیر نوموړی د خپل زوی لپاره د استاد په حیث ټاکلی وو.

کله چې امیر شېرعلي خان دوهم ځل لپاره د واک پر ګدۍ کېناست، د دربار ځینو توطیه ګرانو له لوري د سید جمال الدین پر وړاندې د امیر هڅول د دې سبب شول، چې سید له درباره لرې او تبعید شي. افغانستان کې د ژورنالېزم بنسټګر چې کله له هېواده تلۀ، نو امیر ته یې په لیکلې بڼه د اصلاحاتو یو مفصل طومار وسپاره، چې په کې د عصري کابینې، مواصلاتو، معارف، اردو او اقتصاد ترڅنګ یو هم د مطبوعاتو یادونه شوې وه.

"په افغانستان کې د رسنیو تاریخ" کتاب کې راغلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((زموږ په هېواد کې مطبوعات د علامه سيد جمال الدين د اصلاحاتو د ژور پلان او پروګرام له مخې رامنځته شول.))

همدا راز خپله سيدجمال الدين افغان هم د رسنيو د نقش او عروة الوثقی جريدې په اړه ليکلي وو:

((د ملتونو او امتونو ناروغۍ د ورځپاڼو او مجلو له لارې تداوي شوي او هغوی د غورځنګ او ويښتابه خواته راکاږي؛ مګر د وروسته پاتې ملتونو د جهل او غفلت، د عمق او وسعت په دليل يوازې دا کار کافي نه دی.))

د سيد جمال الدين افغان له لوري د اصلاحي پروګرامونو په لړ کې امير شېرعلي خان ته يو هم د هېواد شموله ورځپاڼې د خپرولو يادونه شوې وه، چې د افغانستان د مطبوعاتو په ډګر کې شمس النهار د لومړني ګام په توګه د کابل په مطبعه کې چاپ او د خلکو تر ګوتو ورسېد.

په دې دوره کې د اصلاحي پرګرامونو تطبيق د سيد جمال الدين افغان په پَل تلونکي سيد نور محمد شاه په غاړه وو، چې د امير شېرعلي خان په دوره کې يې د لومړي وزير (صدر اعظمی) دنده په غاړه وه.

د سيد جمال الدين د افکارو پر مټ د امير شېرعلي خان دې دورې ته د اصلاحي پروګرامونو د معبر نوم ورکړل شوی.

له دې واکمنۍ وروسته په 1880 زېږديز کال د امير عبدالرحمن خان په وخت کې ورځپاڼه ليکنه او مطبوعات په ټپه ودرېدل. ملت د څه ويلو، غوښتلو او مکتوب ليکلو جرئت نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په 1901 کال کې د حبيب الله خان د واکمنۍ پر مهال يو له اساسي کارونو د مطبوعاتو راژوندي کول وو، چې دې کار د خلکو په روحيه ډېره ښه اغېزه وکړه.

دې دور کې د دارالسطنت له مطبعې پرته د "مطبعه عنايت" په نامه يوې بلې مطبعې هم کار پيل کړ. د چاپ برخه کې کتابونه او رسالې خپرې شوې؛ د محمود طرزي اثار، نور متفرقه کتابونه او فرهنگي کارونه د مجموعې په توگه بازار ته وړاندې شول.

د حبيب الله خان د واکمنۍ وروسته يې زوی غازي امان الله خان د خپلې واکمنۍ په دور کې چې ۱۳۰۳هـ ل کال وو، د مطبوعاتو لومړنی قانون طرح او نافذ کړ.

دغه دوره کې ډېرې جريدې او اخبارونه خپاره شول. له وخت څخه په گټنې نورو ډېرو روښانفکرو د بيان او ازادۍ په ملاتړ خپل سرونه پورته کړل، چې له ډلې يې يو هم د افغانستان د ژورنالېزم پلار او د غازي امان الله خان سخر محمود طرزي وو.

دا چې نوموړی په افغانستان کې د عصري ژورنالېزم سرلاری او بنسټگر وو، نو ځکه د افغانستان د ژورنالېزم پلار د ستر لقب وياړ هم ورپه برخه شو.

د نوموړي د ژوند او ژورنالېستيکو فعاليتونو په اړه د همدې څېړکي په وروستيو کې لنډه بحث شوی. د دې بحث اهميت په دې مهم دی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارواښاد طرزي هېواد کې د یوه داسې ژورنالېزم اساس کېښود، چې ټولنه د وخت له غوښتنو سره برابره او ذهنیتونه روښانه کړي.

لکه څنګه چې مخکې مو یادونه وکړه، د مطبوعاتو په برخه کې لومړنی قانون د ۱۳۰۳ کال د مرغومي په لسمه د امان الله خان په دوره کې طرح او نافذ شو.

په دې دوره کې د مطبوعاتو لومړني قانون سربېره لومړنۍ ازاده خپرونه، د مطبوعاتو مستقل ریاست، د افغانستان راډیو او د مطبوعاتو لومړنۍ محکمه منځته راغله، هغه چې د هېواد او سیمې په تاریخ کې یې ساری نه درلود. ترڅنګ یې ډېر شمېر اخبارونه او جریدې خپرې شوې، چې ورسره سم د فرهنګ او بیان د ازادۍ په ملاتړ روښان فکرو شخصیتونو سر پورته کړ.

د راډیو په تخنیکي برخه کې لومړنی مسلکي متخصص مامور عطاءالله خان وو، چې د تخنیکي زده کړو لپاره المان ته استول شوی وو.

له زده کړو وروسته بېرته د المان متخصصینو او مشاورینو سره یوځای افغانستان ته راستون شو.

د ژورنالېزم او رسنیو په برخه کې د محمود نظري سربېره د هغې عربۍ مېرمنې ثمیې هم برخه درلوده او د ارشاد النسوان په نوم د خپرونې مسوولیت یې په غاړه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لنډه يې ووايو، نو محمود طرزي د افغانستان د ژورنالېزم پلار ګڼل کيږي، چې هڅې او مبارزې يې د ژورنالېزم د برخې خلکو لپاره نه هېرېدونکي او ژوندۍ پاتې کېدونکي دي.

بيا د حبيب الله کلکاني (بچې سقاو) دوره د رسنيو لپاره خاموشه دوره وه، خو د محمد نادر شاه واک ته رسېدو سره سم په بله بڼه هېواد کې ژورنالېزم يا صحافت راځرګند شو.

ښايي يو علت يې دا هم وو، چې د زمانې جبر محمد نادر شاه دې ته اړ وېست، چې د خپلو سياسي اهدافو د تحقق لپاره له رسنيو څخه د يوې وسيلې په توګه کار واخلي.

د نادر شاه په دوره کې انيس جريده دولتي کړای شوه، چې بيا دولت انيس ورځپاڼه د خپلو اهدافو خپروونکې وبلله.

دا په يوه آمرانه فضا کې د دولت يوازينۍ معتبره خپرونه وه، چې د دولت اعلامې او فرمانونه به يې خپرول او د واکمن مشر محمد نادر شاه په ګټه به يې تبليغات کول.

محمد نادر شاه د يوه محافظه کارانه سياست پلوی وو او له تبليغاتو څخه سخت وېرېده؛ ځکه خو يې د خپلې واکمنۍ پرمهال د مطبوعاتو قانون هم تنفيذ نه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د نادرشاه څخه يې زوی محمد ظاهر شاه د خپلې واکمنۍ پر مهال انيس ورځپاڼې ته په د دولسو مخونو په لرلو سره د کابل په مطبعه کې چاپ ته اجازه ورکړه.

انيس د محمد موسى شفيق د صدارت په وخت کې د هېواد له بلې معتبرې ورځپاڼې اصلاح سره يوځای کړل شوه. د دولت په چوکاټ کې دا دواړه ورځپاڼې سره مدغم شوې او په يو وخت کې په ټولو ولاياتو کې وېشل کېدې.

د دې ورځپاڼو ادغام په دغه لاره کې لومړۍ تجربه وه.

نوم ايښودنه که څه هم يوه حساسه مسله وه، خو بيا هم له خبرو او مشورو وروسته ”اصلاح انيس“ نوم ورکړل شو.

محمد ظاهر شاه نه غوښتل چې اصلاح ورځپاڼه له منځه لاړه شي؛ ځکه نو اصلاح انيس ډېر مخونه، ډېر تيراژ[1] او ډېر اعلانونه پيدا کړل.

انيس د هېواد د مطبوعاتو په تاريخ کې لومړنۍ ورځپاڼه وه، چې په يو وخت يې ټول هېواد تر پوښښ لاندې راوستی وو.

د سردار محمد داوود خان واکمنۍ پر مهال انيس ورځپاڼه د دولت په معتبر خپرنيز اُرګان بدله شوه او تيراژ يې 10 زرو ګڼو ته ورسېد.

---

[1] په (فرهنګ فارسی معين) کې تيراژ (Tirāž) د ورځپاڼو، مجلو او کتابونو، چې يو بل پسې چاپ ته رسيږي، شمېرنې ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۵۷ هـ لمريز کال د کمونستي کودتا پر مهال يو وخت انيس ورځپاڼه له نشره پاتې شوه، خو څه موده وروسته بېرته د نورو نشراتو ترڅنګ د دولت خپرنی اُرګان شو. د کمونستي رژيم اهداف هم د انيس له لارې خپرېدل. وروسته د ببرک کارمل په دوره کې انيس د پلار وطني ملي جبهې د خپرني ارګان په توګه ونومول شو او کال وروسته بېرته ژوندۍ کړای شوه، چې په لږ تيراژ يې د دولتي خپرونو ترڅنګ فعاليت کاوه.

**افغانستان کې د مسلکي ژورنالېزم پلار:**

طرزي په افغانستان کې د ورځپاڼې ليکنې بنسټ ايښودونکی ګڼل کيږي.

نوموړی د ژورنالېزم سرلاري سيدجمال الدين افغان د افکارو پېرو او د زياترو مشروطه غوښتونکو په سر کې وو.

ديوې استبدادي دورې له تېرېدو وروسته محمود طرزي تر يو حده د خپل سرلاري علامه سيد جمال الدين افغان اهداف په افغاني ټولنه کې پلي کړل.

نوموړي د يو اساسي مسلک او دندې په توګه د ژورنالېزم لاره خپله او ډېرې ګټورې رسالې يې په کې وليکلې؛ يانې طرزي د سيد جمال الدين افکار او طرحې مطالعه کړې وې او هغه ته يې د عمل جامې اغوستلو هڅې کولې.

محمود طرزي د امير عبدالرحمن خان دوره کې د خپلې کورنۍ سره يوځای له هېواده بهر تبعيد شوی وو، خو کله چې امير مړ شو، طرزی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسلیت په پلمه حبیب الله خان ترځنګ کابل ته راغی او نهه میاشتې کابل کې پاتې شو. بیا د ځینو طرحو او مشورو له امله تر درویشت کلن تبعید وروسته د سوریې له دمشقه خپل هېواد ته راستون شو.

د ستنېدو سره سم طرزي د نورو مهمو کارونو ترڅنګ د سراج الخبار جریدې خپرونه په دوهم وار تر خپل مدیریت لاندې چاپ کړه.

دغه خپرونه پنځه کاله وړاندې د مولوي عبدالرووف تر مدیریت لاندې چاپ شوې وه، خو طرزي بیا په افغانستان کې د ژورنالېزم لپاره مسلکي او تخصصي تهداب کېښود.

هغه د ژورنالېزم په باب خپله عقیده داسې څرګنده کړې وه:

((اخبار یو داسې نړۍ ښودونکې هېنداره ده، چې سړی په کور کې ناست وي او د دنیا له حالاتو یې خبروي.))

همداراز وایي، چې:

((اخبار یو داسې بربنډه او تېره توره ده، چې د وطن د بدخواهانو ژبې غوڅوي. اخبار یو داسې ادیب معلم دی، چې انسان پرته له کوم قید او فشاره د ډېرو علومو زده کړې ته هڅوي.

اخبار یو داسې له هاره ډک ګلزار دی، چې هرڅوک د خپلې خوښې سره سم له هغه نه ګل شکولی شي. اخبار له مطالعې نه د هر صنف خلک ګټه اخېستلی شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسنيو له ډلې د اخبار په اړه طرزي د سراج الاخبار د دوهم ځل خپراوي د لومړۍ ګڼې سرمقاله کې ويلي وو:

((اخبار په دې عصر کې د هېوادونو او ولسونو د ژبې حېثيت لري او په اوسنيو وختونو کې له وحشي قومونو پرته بل هېڅ دولت او قوم نشته، چې د اخبار خاوند نه وي.))

طرزي د ژورنالېزم اساسي اصول اطلاع، زده کړه او سرګرمي د خپل مطبوعاتي کار بنياد وټاکه. هغه هېڅ کومه بله رشته له ژورنالېزم سره نه برابروله. طرزي د ازادو او زړورو مطبوعاتو پلوی وو، چې يو ژورنالېست د ټولنې ناخوالې پرته له کومې پردې او سانسوره تر خلکو ورسولای شي.

برتانوي هند او روسيې د طرزي پر خلاف تبليغات پيل کړل، چې پايله کې نوموړی له سياسي او فرهنګي کارونو ګوښه کړای شو، خو کله چې حبيب الله خان ووژل شو او غازي امان الله خان د واک پر ګدۍ کېناست، طرزی بېرته د غازي امان الله خان سياسي مشاور شو.

په دغه دوره کې له پنځوسو زيات قوانين طرح او نافذ شول. د هغې له ډلې يو هم د ازادو مطبوعاتو قانون وو، چې هغه وخت د ګاونډيانو او اسيايي هېوادونو په منځ کې يو بې سارې نوښت بلل کېده.

محمود طرزي د خپلو افکارو او هڅو سره امانيه دوره روښانه او د رښتيني خدمت له لارې يې ولس خپل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دغو بنیادونو وروسته که څه هم په اماتوره بڼه ځینې روزنځایونو او کورسونو په لنډمهالي ډول ژورنالېزم کې خلک وروزل، خو مسلکي زده کړو ورو – ورو هېواد کې وزرې خورې کړې، چې اوس د دولتي پوهنتون سربېره په بېلابېلو خصوصي پوهنتونونو کې هم ژورنالېزم پوهنځي تاسیس او په کې د ژورنالېزم مینوالو ته په مسلکي بڼه ژورنالېستیکي زده کړې ورکول کیږي.

**د نسبي سوکالۍ یوه نیمه لسیزه او افغاني رسنۍ:**

۱۳۷۱ کال کې د مجاهدینو او ترې وروسته په ۱۳۷۵ لمریز کال د طالبانو د واکمنۍ مهال د رسنیو لپاره توره دوره ګڼل کیږي؛ ځکه مطبوعات نه وو، نو له همدې امله په هغه وخت کې د خلکو او حکومت ترمنځ اړیکه کمرنګه او ترمنځ یې واټن موجود وو.

هرکله چې د حکومت او خلکو تر منځ واټن راشي، د واکمنۍ دوام له ګګلېچونو سره مخ شي.

د دوی په منځ کې رسنۍ دي، چې واټنونه راکموي، هېواد د سمسورتیا پر لور رهبري کوي او د ملک د پرمختګ سبب ګرځي.

د طالبانو رژیم د له منځه تلو وروسته افغانستان کې د ناټو په مرسته د حکومت په رامنځته کېدو سره رسنیو لپاره یو نوی ژوند برابر او رسنیو ته ازادي ورکړل شوه، چې له همدې امله رسنۍ د بېلابېلو ډلو له لورې ورځ تر بلې په زیاتېدو شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واک له پیل سره سم د افغانستان اقتصاد په ناڅاپي ډول وده وکړه. دا لوړتیا که څه هم طبعي نه وه او د عوامو پر ځای یې د خاصو خلکو ژوند ډېر لوړ کړ، خو د ژوند د کچې لوړتیا د رسنیو راټوکېدا ته لاره هواره کړه.

افغانستان کې د رسنیو د پرمختګ لپاره د بېلابېلو هېوادونو له لورې مرستې وشوې، څو د افغانستان رسنۍ د کمیت له پلوه په پښو ودروي. ځینو نورو پانګوالو د خپلې شخصي سپما په لګولو سره رسنۍ را ژوندۍ کړې.

اوس مهال د هېواد په هر ولایت کې د رسنیو بېلابېلې بڼې په فعالیت بوختې دي. په دې دوره کې د رسنیو ناڅاپي راټوکېدو یو علت دا هم وو، چې بهرنیانو غوښتل له دې لارې ځان تر خپلو موخو او اهدافو ورسوي.

له همدې امله په نوي رژیم کې رسنیو ته ډېره ازادي ورکړل شوه، خو له کلتوري چوکاټه د ځینو خپرونو او نشراتو وتل هغه څه وو، چې بیا ځلي یې د رسنیو قانون جوړولو ته پلمه جوړه کړه.

مالي امکانات ډېر شول، انټرنېټ او تخنیکي وسایلو ته هم لاس رسی پیدا شو. د رسنیو ډېرښت نه یوازې د دې سبب شو، چې خلک او چارواکي خپل فکرونه او پیغامونه یو تر بله ورسوي؛ بلکې رسنیو د افغاني ټولنې د ژوند بېلابېلې خواوې هم تر خپل پوښښ لاندې راوستې او د ژوند ډېرې بریاوې او ناخوالې یې منعکس کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربېره پر دې دولتي او نادولتي موسسو ته د نړۍ د بې درېغه مالي مرستو رسېدل هم حکومتي ادارو او هم یو شمېر انجیوګانو ترڅنګ ډېرى اشخاص د دې جوګه کړل، چې د رسنیو په زیاتوالي کې اساسي ونډه ولري.

دغه ډول ولایتي رسنیو د ژورنالېستانو د روزنې لپاره د هېواد په داخل کې لنډمهالي کورسونه جوړ کړل. د جاپان او نورو هېوادونو په مرسته سلګونه اماتور او نامسلکه ژورنالېستان په ابتدایي ډول وروزل شول. همدغه د ژورنالېستانو لنډمهاله روزنې دود اوس هم پرمخ روان دی، چې له امله یې په ولس او رسنیو ګڼې اغېزې پرې باسلي.

له ځینو مشخصو اشخصاصو سره د زیاتو پیسو راټولېدل بل لامل وو، چې هر څوک د خپل شوق او ذوق سره سمې رسنۍ مېدان ته کړي. د ځینو اشخاصو او تنظیمواکو سره د ګاونډیو هېوادونو پخوانیو او اوسنیو، پټو او ښکاره اړیکو چې له امله یې ورته مالي امکانات برابرول، د دې سبب شو چې نه یوازې د رسنیو بازار ګرم او پراختیا ومومي؛ بلکې رسنۍ په کمي ډول د بسنې تر حده ورسیږي.

دا چې د عوامو او په تېره بیا د نالوستو خلکو لېوالتیا له چاپي رسنیو سره کمه وه، دې کړنې سره دا برخه نوره هم له پامه وغورځېده، چې ورو-ورو د رسنۍ دې بڼې په خاصې لوستنې سره یوازې ښاري ټولنې پورې تړون پیدا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښارونو کې د رسنیو نورو بنو ډېره وده وکړه، خو د کنټرول کیلي یې د خاصو ډلو او هېوادونو په گوتو کې وه.

په ټولیز ډول که چېرې د نړیوالې ټولنې بې دریغه مرستې او د رسنیو له لوري د ځانگړو اهدافو تر لاسه کولو موضوع موجوده نه وای، رسنیو په کمي ډول دومره چټک پرمختگ نشو کولای.

د 2001 او 2016 کلونو ترمنځ ځینې هغه رسنۍ چې د نړیوالو په مرسته پیل شوې وې، وروسته د مرستو په بندېدو او ځنډېدو سره بېرته اکثره بندې او ځینې یې د اقتصادي ستونزو له امله په سلگو او ډېرې یې په ټپه ودرېدې.

ژورنالېزم کې د ځینو استادانو په باور یو شمېر دغه رسنۍ په تصنعي ډول رامنځته شوې وې او ټولنه کې د نورو هېوادونو د اهدافو ترڅنگ د ځینو مطرحو څېرو د مصنوعي اقتصاد زېږنده وې.

په دې دلیل چې که زموږ اکثره رسنۍ د ټولنې د نورمال طبعي، اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او فرهنگي پرمختگ سره سمې رامنځته شوې وای، نو ژوند او بقا به یې هم د ټولنې د طبعي حرکت سره سمون درلود.

د مسلکي کادرونو په باور زموږ د رسنیو ډېره برخه اوس هم د همدغه مصنوعي او موقتي اقتصاد په زور چلېږي او کله چې دا حالت پای ومومي، نو د دې بنې ډېرې کمې رسنۍ به خپل ژوند تضمین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته که رسنيو په کمي ډول د مصنوعي اقتصاد پرمټ وده وکړه، خو د کيفيت له اړخه يې خورا فقر وهلي مزلونه ووهل.

د هرې ادارې او اُرگان کيفيت د مسلکي او کادري شخصيتونو په شتون سره پورته ځي؛ رسنۍ هم په همدې ډول، نو د ژورنالېزم مسلکي اشخاص هم رسنيو کې د نامسلکو خلکو په شتون نه يواځې ځوريږي؛ بلکې تر ډېره د مسلکي اشخاصو مسلک او شخصيت هم د همدې خلکو لخوا په نا خبرۍ او ناپوهۍ بدنام شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## مسلکیتوب ته اړتیا

**پوهه او مسلکیتوب:**

د رسنیو قانون د دولسمې مادې له مخې د هېواد اتباع، سیاسي ګوندونه، ټولنیز سازمانونه، غیر دولتي موسسې او کورنۍ، خصوصي شرکتونه او دولتي ادارې کولای شي د دغه قانون د حکم سره سم برېښنایي رسنۍ تاسیس کړي.

خو د همدې قانون ۱۹مه ماده بیا سراحت لري، چې د خصوصي راډیو او ټلوېزیون ادارې باید خپل فعالیتونه د دې قانون د حکمونو په رڼا کې سرته ورسوي.

نو د دې قانون په درېیمې مادې درېیم جز کې ژورنالېست داسې پېژندل شوی دی:

(( ژورنالېست هغه حرفوي او مسلکي شخص دی، چې د رسنیو له لارې خپرنیزه مواد او محتوا (منځپانګه) برابر او وړاندې کوي.))

دلته د حرفویتوب او مسلکیتوب کلیمې کارول د دې ښکارندوی کوي، چې باید کارکوونکي یې په مسلکي بڼه زده کړې ترلاسه کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې یو ښه ډاکټر باید په دې پوهـ وي، څو د انسان وجود څنکه په واحد ډول کار کوي؟ او څه باید وکړي، چې د هغه ټول بدن روغتیا وساتي؟

همدارنګه ژورنالېستان هم باید د خپل ولس له واحد ډول کار او فعالیت څخه خبر وي او داسې څه هغوی ته وړاندې کړي، چې په اسانۍ سره ورته د پوهې وړ وي، څو وکولای شي له نویو پېښو او بدلونونو څخه خبر او په ښه توګه یې شننه وکړای شي.

که له ښاره لرې کلیوالو سیمو او بانډو کې د رسنۍ اهمیت وګورو، نو پوهـ به شو چې د هغوی په منځ کې رسنۍ د ډېر باور څخه برخمنې دي؛ ځکه د رسنیو له لورې خپره شوې هره خبره ورته د منلو وړ، سمه او رښتونې ښکاري.

نو د مسلکیتوب اصل ته په پاملرنې سره رسنۍ کولای شي، د ټول ولس لا ډېر باور خپل او د بشپړ اعتماد څخه یې ځانونه برخمن کړي.

دغه کړنه هغه اشخاص ترسره کولای شي، چې د کار په ډګر کې د مسلک ویاړ له ځانه سره ولري.

که چېرې رسنۍ مسلکي ژورنالېستان ولري، نو مالومه خبره ده چې هغه رسنۍ به معیاري خپرونې او پرګرامونه ولري، خو دلته په افغاني رسنیو کې تر ډېره بریده مسلکي کسان نشته، چې له همدې امله زموږ ډېرې رسنۍ له معیاري خپرونو او نشراتو بې برخې دي، خو بیا هم د خوښۍ ځای دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې وروستیو کې د پوهنتونونو څخه په زیاته کچه مسلکي ژورنالېستان فارغېږي او دا لړی لا هم دوام لري، چې کېدای شي د وخت په تېرېدو سره دغه لوېدلی معیار مسلکي کسان بېرته د مسلک په څواک پورته کړي.

مسلکیتوب ډېری ځایونو کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخه نیسي، خو زموږ هېواد کې د مسلکیتوب اصل څخه په ډېرو کمو ځایونو کې گټه اخېستل کیږي.

که څوک له ژورنالېزم یا بل کوم مسلک سره مینه ولري، کولای شي د بې مسلکه دندې پرځای د ټولنیزو رسنیو له لارې خپله تنده خړوبه کړي، نو په کار ده چې د ژورنالېزم عملي ډگر کې په مسلکیتوب او لوړ معیار باندې کار وشي.

## اسلام کې پر مسلکیتوب ټینگار:

د اصولو په پام کې نیولو تر سرلیک لاندې د رسنیو قانون په شلمه ماده کې راغلي:

((د خصوصي راډیو ټلوېزیون اداری مکلفې دي، چې په خپلو خپرونو کې د اسلام د سپېڅلي دین اصول او حکمونه او د افغانستان د ملت ملي، معنوي او اخلاقي ارزښتونه او رواني امنیت په پام کې ونیسي.))

نو د اسلام دین ته په پام سره دې برخه کې هم ډېری ثبوتونه شته، چې د مسلکیتوب اهمیت په ډاگه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قران کریم د ۱۳مې سپارې په سورت یوسف کې هم مسلکیتوب او کامل علم ته اشاره شوې ده.

د تفسیر ابن کثیر په څلورم جلد کې د دغې سورت د ۵۵ ایات په شرعه کې راغلي:

((یوسف علیه السلام د خپلې امانتدارۍ، رښتینولۍ، سلیقه مندۍ او په دې برخه کې د کامل علم له امله بادشاه ته د ځان لپاره د مالیې وزارت یادونه وکړه. د بادشاه زړهٔ کې چې پورته خصوصیات له وړاندې ناست وو، نو دې برخه کې د کامل علم لرلو له امله یې د یوسف علیه السلام غوښتنه ومنله.))

دلته د یوسف علیه السلام حفاظت کوونکې پوهه او کامل علم د دې باعث شو، چې بادشاه یې غوښتنه ومني.

کامل کلیمې ته په انګرېزۍ کې Full, Complete او Perfect وايي. کاملتوب ته بیا Perfection وايي، چې بشپړ والی او پوره توب ترې هدف دی.

نو کاملتوب له کلیمې چې په تفسیر ابن کثیر کې یې یادونه شوې، موخه په ټولو (عملي او نظري) برخو کې د بشپړې پوهې ترلاسه کول دي.

له دې جوتیږي، چې د اسلام سپېڅلی دین د کار په ډګر کې ځانګړېپوهنې (مسلکیتوب) ته په بشپړ ارزښت قایل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکار په ډګر کې مسلکیتوب ته د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم څو ویناوو او عمل ته په لاندې ډول اشاره کوو:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا، أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا، فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ، أَوْ إِنْسَانٌ، أَوْ بَهِيمَةٌ، إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ).

ژباړه : د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

(( هر مسلمان چې بوټی یا ونه وکري او مرغی، انسان یا حېوانات ترې خوراک وکړي، نو انسان لپاره صدقه حسابیږي.))

دهمدې لپاره باید مسلمان چې هر کار کوي، نو ذهن او زړهٔ یې حاضر وي او د کار د اصالت ترڅنګ د الله تعالی حقیقي رضا په ذهن کې ونیسي، څو د کار وروستي عواقب او پایله مثبته اوسي.

په کار کې مسلکیتوب د اسلام غوښتنه ده او هر انسان لپاره د هغه کار او شغل امانت دی، څو په هم هغه بڼه یې ادا کړي، په کوم ډول چې ورته سپارل شوی وي؛ لکه رسول صلی الله علیه وسلم چې فرمایي:

((إِنَّ اللهَ يُحِبُّ إذا عَمِل أَحَدُكُم عَمَلا أَنْ يُتْقِنَه))

ژباړه: ((الله تعالی خوښوي چې له تاسو څخه څوک کوم کار کوي، نو په ښه توګه (مسلکیتوب) یې ترسره کړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علماؤ په نزد دلته د اتقان تفصیل په دې بڼه راغلی، چې کار کې پوره پوهه او اخلاص شامل وي او مسلمان اړ دی، چې هومره اخلاص وکړي څومره چې یې وس او توان وي، نه دومره چې هغه ته تنخواه یا روپۍ ورکول کیږي.

که یواځې معاش په نظر کې ونیسي او کار کې تمبلي او غلا اختیار کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه فرمایي:

((کُلُّکُم راعٍ وکُلُّکُم مسؤولٌ عن رعیتهِ))

ژباړه: ((تاسو هر یو شپونکی یاست او هر یو له تاسو څخه د خپلې شپنې مسوولیت په غاړه لرئ.))

د کار اتقان، اخلاص او مسلکیتوب باندې تمرکز هر اړخیز دی.

که هغه د امانت ساتل وي، که په کور کې د ماشومانو روزنه، که ښځې لپاره د خپل خاوند د مال ساتنه او که د حیواناتو ذبح وي؛ ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذبح کې هم د کار په اتقان او مسلکیتوب باندې ټینګار کړی:

((إِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ، فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ، وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ))

ژباړه: ((کله چې تاسو قتل(قصاص وغیره) کوئ، نو په ښه توګه یې وکړئ او کله چې ذبح (حلاله) کوئ، نو په ښه توګه یې ترسره کړئ او له تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هر څوک خپل چاقو تېره کړي او حلال کېدونکی ته دې ارام ورورښي.))

په کار کې مسلکیتوب د علماوو په نزد فرض دی؛ لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمايي:

((إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ))

ژباړه: ((الله تعالی په هر څيز باندې احسان (نیکي له نورو سره) فرض کړې ده، نو هغه اعمال چې د نورو سره يې معامله راځي، مسلمان اړ دی چې په ښه او مسلکي شکل سره يې ادا کړي.))

اتقان د الله تعالی صفت دی؛ لکه الله تعالی چې فرمايي:

((صُنعَ اللهِ الَّذِي أَتقَنَ كُلَّ شَيءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بما تَفعَلُونَ))

ژباړه: ((دا د الله تعالی جوړښت دی، چې په ډېر صحیح او دقیقه بڼه يې هر څه جوړ کړي دي.))

الله تعالی په هر هغه څه پوهـ دی، چې تاسو يې کوئ.

دغه ډول که چېرته یواځې د لوست خبره وي او يو څوک د قران کريم لوست په ښه توگه کوي، نو ډېر لوی اجر ورته ټاکل شوی؛ لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمايي:

((الَّذِي يَقرَأُ القُرآنَ وَهُوَ مَاهِرٌ بِهِ مَعَ السَّفَرَةِ الكِرَامِ البَرَرَةِ)) (رَوَاهُ البُخَارِيُّ وَمُسلِمٌ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: هر هغه څوک چې قران لولي او ماهر وي، نو هغه به ملايکو سره وي.))

قِصَّةِ رُؤيَا عَبدِاللهِ بنِ زَيدٍ لِلأَذَانِ، قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ عليه الصلاة والسلام:

«فَقُمْ مَعَ بِلالٍ فَأَلْقِ عَلَيهِ مَا رَأَيتَ؛ فَلْيُؤَذِّنْ بِهِ فَإِنَّهُ أَندَى صَوتًا مِنكَ))

ژباړه: ((همدا شان د اذان د شرعيت په قصه کې چې عبدالله بن زيد خوب ليدلی و، نو ورته رسول صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

((دغه الفاظ بلال رضی الله عنه ته ورکړه، چې هغه اذان وکړي؛ ځکه چې د هغه غږ لوړ دی))

دلته هم د غږ او الفاظو په ښه اداينه او تلفظ کې د بلال رضی الله عنه مسلکيتوب ته اشاره شوې ده.

عمر رضی الله عنه اعلان وکړ، چې نن نه وروسته دې هغه څوک دوکانداري نه کوي، چې مسلکي شوی نه وي او د دوکاندارۍ او معاملاتو په فقهي احکامو يې ځان نه وي پوه کړی.

((ولقد زكت ابنة نبي الله شعيب سيدنا موسى لأبيها قائلة «إن خير من استأجرت القوي الأمين» وعند ما رشح سيدنا يوسف عليه السلام))

د شعيب عليه السلام لور هم د موسی عليه السلام صفت کړی ؤ؛ ځکه چې په خپل کار کې واکدار او مسلکي وو.

په قران کې راغلي، تر ټولو بهتره سړی چې تنخواه ورکړي هغه دی، چې هم قوي او هم امانت دار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بل پلوه د اسلام ستر پېغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د بعثت په درویشت کلنه دوره کې د تل لپاره چارې هغه چاته سپارلې، چې اهلیت به یې درلود او چارې به یې په مسلکي بڼه ترسره کولای شوې.

دجنگ په ډگر کې به یې مسوولیت هغه چاته سپارهٔ، چې وړتیا به یې په کې ولیده؛ د بېلگې په ډول خالد بن ولید رضی الله تعالی عنه له هغو جلیل القدرو صحابه وو څخه وو، چې وروسته یې ایمان راوړ؛ مگر د هغوی په سر یې اِمر وټاکلو. مسلمانانو چې کله حبشې ته هجرت کوو، جعفر طیار رضی الله عنه چې د ویناوالۍ په برخه کې یې ښه پوهه لرله، د مهاجرینو دویاند په توگه وټاکل شو.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم هر صحابي ته د هغه د ذوق او وړتیا برابر دندې سپارلې او په هماغه برخه کې به یې د هغه قدر هم کولو.

حسان بن ثابت رضی الله عنه سره له دې چې د خندق په غزوه کې یې په جنگ کې هم برخه وانه خېسته او هغه یهودي، چې د مسلمانانو د ښځو او ماشومانو جاسوسۍ پسې راغلې وو. د هغه وژل یې هم د پېغمبر علیه السلام عمه ته پرېښودل؛ مگر دا چې ښه شاعر وو، زموږ پېغمبر به ورته خپل څادر هوارولو.

په ټولو هغو چارو کې چې به نبي کریم ته وحې نه وه راغلې، د صحابه وو مشورې به یې منلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان فارسي رضی الله عنه چې د فارس په جنگونو کې يې مهارت درلود، د دواړو جهانونو سردار ته د خندق کنلو مشوره ورکړه، چې مشوره يې هم ومنل شوه.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وحې لیکلو لپاره هم صحابه ځانگړي کړي وو. هماغه وو چې د قرآن کریم د مصحف په ترتیب کې حضرت عثمان رضی الله عنه د هماغه صحابه وو لیکل راوخېستل او منظم يې کړل.

نو موږ ویلای شو، چې د اسلام ستر پېغمبر د ژوند د چارو په هره برخه کې مسلکې اشخاص په دندو گمارلي وو او له هغه مبارک وروسته خلفای راشدینو هم همدغه سنت جاري ساتلو.

فقیه صحابه په فقاهت، د سیاسي وړتیاوو لرونکي په سیاسی برخه او د جنگي وړتیاوو لرونکي په جنگي برخه کې په دندو بوخت وو.

نو د اسلام د مبارک دین د لارښوونو په رڼا کې ویلای شو، چې که یو ځوک په یوه برخه کې زده کړې وکړي؛ مال، ځان او وخت مصرف کړي او بله برخه کې کار کوي، نو دې شخص د خپل ژوند ډېره برخه بې ځایه مصرف کړې ده، چې په دې سره د وخت اصراف راځي او اصراف کوونکو ته زموږ پېغمبر د شیطان د وروڼو خطاب کړی دی.

البته دا په هغه وخت کې چې په دغه دنده کې نور خلک هم پیدا کیږي، چې کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسنیز ډګر کې د وړتیا او ژمنتیا اړتیا:

حقیقت کې که موږ وګورو، د اسلام مبارک دین رسنیز ډګر ته ډېره پاملرنه کړې.

د یوې رسنۍ مهمه ځانګړنه داده، چې د خبر په رسونه کې له دقت څخه کار واخلي او خلکو ته سم خبرونه ورسوي.

د نننۍ ورځې د ژورنالېزم له اصولو سره برابره او کره خبره باید خپره کړي، له بې بنسټه خبر څخه ډډه وکړي؛ یانې سرچینه یې باید معتبره او موثقه وي.

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ)) (الحجرات سورت، شپږم نمبر آیت)

ژباړه: ((ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! که تاسو ته کوم فاسق (بدکار کس) خبر راوړي، نو تاسو یې په اړه ښه تحقیق وکړئ، په دې چې تاسو به یو قوم ته په ناخبرۍ سره تکلیف ورسوئ، بیا به تاسو په خپلو کړو باندې پښېمانه یاست.))

د دې ډګر لومړني متخصصین صحابه کرام وو. هغوی په څومره دقت او توازن سره د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم احادیث چې زموږ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند لارښونې دي،  رارسولي دي او د هېڅ ډول غفلت او زياتي څخه يي په کې کار نه دی اخېستی.
د هغه وخت رسنۍ منبر، مسجد او لويې غونډې وې، نو هماغه صحابه چې ښه پوهېدل ان زموږ تر هېواده يې د اسلام سپېڅلي دين شغلې راورسولې.
د احاديثو د ستر او معتبر كتاب ليكوال امام بخاري رحمت الله عليه په يو حديث شريف پسې چې له يو تن سره وو، په ورځو- ورځو مزل وكړ، خو كله چې ورنږدې شو، هغه تن غوښتل چې د خپلې تشې لمنې په نيولو سره  اس راونيسي؛ دې كس اس ته دوكه وركوله، چې فكر وكړي واښه او يا نور خوراكي توكي يې په كې اچولي دي. امام بخاري چې دا منظره وليده، بېرته ترې ستون شو. ويل تا له آس سره دوكه وكړه، هسې نه ماته د نبي كريم په حديث كې له دغه ډول چارې كار واخلې.
له دې څخه موږ ته داجوتيږي، چې سرچينه هم بايد موثقه او باوري وي.
په اسلامي ټولنه كې يو خبريال بايد د رسنيزو زده كړو ترڅنگ د رسنيو په قانون پوهـ وي او په اسلام كې د رسنيو په حقوقو هم ځان اگاه كړي؛ كه داسې نه وي، نو په ديني برخه كې به هم ناوړه كارونه ترسره كړي او مسلكي برخه كې به هم داسې څه وكړي، چې ټولنې ته به بې گټې او بې ارزښته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوس وخت کې زموږ سیمه ییزې او ملي رسنۍ زیاتره د نامسلکیتوب ښکار شوي دي.

ډېری کارکوونکي یې په رسنیزه برخه کې بشپړې زده کړې نه لري. په دې هم نه پوهیږي، چې د رسنیو بنسټیزې موخې کومې دي؟

زه په ټولنه کې کوم ځای لرم؟

د خپرونې لیدونکي، اورېدونکي او یا لوستونکي څوک دي؟

خپرونه د ټولنې له دود او کلتور سره څومره برابره ده؟

او دا څه چې خپروم، د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو سره څومره اړخ لګوي؟

همدا علت دی، چې هېواد کې مو په سلګونه راډیوګانې، مجلې، ورځپاڼې، په لسګونو تلوېزیوني چېنلونه او ټولنیزې رسنۍ له دومره ډېربښت سره - سره د وړتیا او ژمنتیا په برخه کې بې خونده دي.

د ټولنې په عامه پوهاوي، روغتیایي چارو، اقتصادي پیاوړتیا، د نشه یي توکو سره د مبارزې، د سیاسي پوهې د کچې په لوړاوي، د ښوونې او روزنې لور ته په هڅونې، د ظلم په مخنیوي او نورو کې یې نه یواځې کم رنګه رول ولوباوو؛ بلکې برعکس ځینو یې اخلاقي فساد ته لارې برابرې کړي او ملي یوالي ته یې سخت زیان ورسوو، چې د ټولنې وګړي یې یواځې په ځینو مبتذلو او بې ګټو بوختَوونکو خپرونو بوخت کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فکري رغونه کې د مسلکي اشخاصو اغېز:

د هر کار او هرې چارې د ښه او ګټور رسالت لپاره باید وړ او مسلکي کادرونه وګمارل شي، څو وکولای شي خپله برخه کې دنده او مسوولیت په بریالیتوب سره ترسره کړي.

مسلکي ژورنالېستان د خپلې مسلکي وړتیا او ظرفیت له مخې کولای شي، چې د ټولنې په فکري او ذهني رغون کې د نورو په پرتله ډېر مثبت او اغېزناک رول ولوبوي.

مسلکي اشخاص دا وړتیا لري، چې د اطلاعاتو او مالوماتو سربېره په خبرونو، راپورونو او خپرونو کې د بهرنۍ مداخلې باریکۍ ته په پام سره د خپلو ملي نوامیسو سرو کرښو ته ځیر واوسي.

دغه ډول د هېواد سیاسي، اقتصادي، امنیتي او ټولنیز وضعیت د ښه څارولو او په لوړه بڼه د وړاندې کولو لپاره مسلکي اشخاص کلیدي رول لري.

مسلکي اشخاص کولای شي د ځانګړو پروګرامونو او خپرونو پرمټ د ټولنې د هر قشر فکري رغون ترسره کړي؛ لکه د ماشومانو فکري روزنې لپاره ځانګړې خپرونې، دغه ډول د زده کوونکو، مېرمنو، والدینو، روغتیا، ورزش، پخلي او نورو برخو لپاره د پروګرامونو په جوړولو له منفي کړنو ځان ساتنه او مثبتو ته لېوالتیا وربښل، چې دغه چاره باید په مسلکي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره شي، خو که مسلکي اشخاص ونه اوسي، ممکن په لږې پوهې او ډګر کې باریکۍ ته په کتو نامسلکه کسان د مثبت پرځای منفي لور ته خلک لېواله کړي.

مسلکي کسان د مسلکي وړتیا پرمټ د معیاري خپرونو په کولو سره اسلامي کړنلاره او د افغاني دود او کلتور د ټینګولو هڅه کوي، چې غواړي ټولنه کې لوی اخلاقي ترون رامنځته کړي.

دغه ډله خلک  د مسلکي او ګټور نشراتي پلان په لرلو سره ټولنه کې خلکو ته واضح او ځرګند پیغام لېږدوي، چې د هر ډول قشر لپاره د پوهې وړ ګرځي. مسلکي اشخاص د مسلکي کړنو پرمټ نه یواځې خپله بلکې نور خلکو ته هم له بېلابېلو لارو د دې اجازه نه ورکوي، چې د ټولنې اخلاقیات پیمال او خلک د ورانۍ لوري ته کیباسي.

مسلکي پوهه اشخاصو ته دا وړتیا ورپه برخه کوي، چې د خپلو پوهو، تجربو او مالوماتو له مخې د پرَدي بد کلتور د دودېدلو مخنیوی وکړي.

دوی له خپلې ټولنې، کلتور، دین او ایین په ټولو چارو اګاه او هېڅاته یې د پولو نړولو اجازه نه ورکوي، چې د همدې کړنې له امله د ټولنیزو ستونزو د هواري ترڅنګ تر ډېره بریده د کورنیو ستونزو د زېږدېدو مخنیوی کیږي.

مسلکي ژورنالېستانو د بېلابېلو تبلیغاتو په مرسته د عامه پوهاي لپاره د ټولني ټولو وګړو ته د مختلفو مطالبو څخه د اخذ  لاره برابر کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې په اخلاقیاتو او عامه پوهاوي برخه کې د مسلکي اشخاصو تبلیغاتي رول وګورو، نو ښکاره ده چې دوی په دغو برخو کې د خلکو اذهان په ډېرې اسانۍ سره مثبت لور ته سوق کولی شي.

مسلکي خلکو دې برخه کې رسنیو ته د روزنتون بڼه ورکړې؛ له همدې امله خو په ولسواکه هېوادونو کې د مسلکي کړنو له امله رسنۍ د څلورم ځواک په نوم پېژندل کیږي.

د رسنیو له دندې یې یوه د ټولنې سمې لورې ته رهبري کول دي. سمه رهبري په سم مدیریت او سم مدیریت په مسلکي مهارت سره کیږي.

د مسلکي اشخاصو په شتون سره رسنۍ د ټولنې افکار په منظم ډول داسې لور ته بسیج کوي، چې نه په کې اسلامي او نه هم مدني ارزښتونه له منځه لاړ شي؛ ځکه دوی پوهیږي چې رسنۍ یانې د واقعیتونو، ستونزو او اطلاعاتو پیدا او برسېره کول او دا بیا په داسې انداز وړاندې کول، چې عامه پوهاوی په کې ترسره او رسنیز بهیر کې اغېزمن او موثر ثابت شي.

دوی د مسلکي پوهې پرمټ خلک هسې -بېسه وېره کې له اچولو ساتي.

که چېرې یوه چاودنه کیږي، مسلکي کس د چاودنې له راپور کولو وړاندې غواړي مالومات ترلاسه کړي، چې دا چاودنه درنه، زوروره او که عادي یوه چاودنه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د چاودنې دغه تفکیک په مسلکي ډول د هغه د غږ له امله نه کېږي؛ ځکه ممکن د یوې رسنۍ یا یو خبریال څنګ ته نږدې د مکناتیسي ماین چاودنه وشي، نو ښکاره ده چې د چاودنې غږ له آره درون وي.

مسلکي خبریال له تفکیکه وړاندې دغې چاودنې ته د درنې کلیمې کارونه نه کوي.

دا هرې چاودنې ته درنه او زوروره نه وایي؛ ځکه پوهیږي چې که مکناتیسي ماین چاودنې ته درنه ووایي، بیا به موټر بم ته کومه کلیمه کاروي؟

په مسلکي ډول دغه تفکیک د مرګ –ژوبلې او ویجاړۍ له مخې کېږي.

هو! ممکن غږ هم ورسره خپل رول ولوبوي، خو هرې لویې چاودنې غږ لوړ وي، چې بیا د ډېرې مرګ –ژوبلې لامل هم کېږي، خو غږ د درنې یا زورورې اساس نه دی؛ بلکې دغه کلیمات د ورانۍ او مرګ –ژوبلې سره تړاو مومي. ممکن یو کس دا دلیل ووایي، چې کېدای شي موټر بم چاودنه وي، خو ډېره مرګ –ژوبله ونه لري، دې ته بیا کوم نوم ورکول په کار دي؟

د درنې او زورورې یواځینی اساس مرګ –ژوبله نه ده؛ ویجاړۍ او ورانۍ هم دغه کلیمات بدرګه کولای شي.

نو چې خبره بل لور ته لاړه نه شي، دا د یو مسلکي کس د ښه والي بېلګه ده، چې خلک هسې –بېسه په وېره او ډار کې نه اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درییم څپرکی

## د نامسلکیتوب نیمګړتیاوې

### الف: مسلکي نیمګرتیاوې:

دا سمه ده، چې افغانستان کې ځینو رسنیو له وخت سره سم خپلې رسنیزې چارې غني کړي دي، خو دا غِنا تر ډېره د کمیت له پلوه وه، چې د کېفیت له امله په ډېرو ابتدایي فکرونو کې ویده پاتې وو او د پاتې کېدنې یواځینی دلیل یې د مسلکي پوهې نه شتون وو.
هغه څه چې په اوسني دور کې باید رسنیو کې ترسره شي او اساسي بنه خپله کړي، په مسلکي بڼه ټولو هغو تخنیکونو او تکتیکونو ته پام او ځیرکتیا ده، چې پر مټ یې په ټولنه او د رسنیو بازار کې سیالۍ ترسره کولای وشي.
دا چاره د امکاناتو ترڅنګ مسلکي ځیرکتیا غواړي، چې نامسلکي کسان ترې بې خبره دي.
هېواد جوړونه، خپلو ملي مسایلو او ارزښتونو د ساتلو او پاللو لپاره د مسلکیتوب آرونو ته په کلکه پاملرنه او توجو په کار ده چې وشي، خو دغه چاره د نامسلکو له لوري ډېره سخته ده، چې ترسره شي.
د رسنیو په دغه ازاد بازار کې د زیاتې ګټې - وټې لاسته راوړلو، افکارو پاشلو او مختلفو تبلیغاتو لپاره د رسنیو له لوري خپلې رسنیزې کړنلارې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرحې چمتو کول هغه څه دي، چې د ژورنالېزم له پاک مسلکه په استفادې يې د پلي کولو هڅې کوي او د مسلکي نيمګړتيا له امله دا هڅې د رسنيو په منځ کې په سرعت او چټکۍ سره مخ پر ودې روانې دي.

اصلاً هېواد کې د رسنيو روانو چارو ته په کتو په ډېره ښه بڼه د ټولنې د پرمختګ ترڅنګ د هرې برخې د کېفيت لوړونې لپاره ګټه اخېستل کېدای شي، خو د نامسلکي اشخاصو مسلکي نيمګړتياوو د شتون له امله دغه ګټه اخېستنه د لوی خنډ سره مخ ده.

د بېلګې په ډول که په مسلکي نيمګړتياوو کې راپور ليکنه راواخلو، نو کېدای شي تاسې فکر وکړئ، چې آيا د رسنيو لپاره راپور ليکنه دومره مهمه ده، چې په ټوله کې د رسنيو د کېفيت لوړونې لامل کيږي؟

بې له شکه، د رسنيو خبري برخه مطلق په راپور او خبري ژانرونو تمرکز لري؛ ځکه همدغه ژانرونه دي، چې مخاطبان د سيمې له پېښو په بې پرې ډول خبروي.

نامسلکي کس دومره وارد نه وي، چې د رسنيو هرې بڼې لپاره په بېله بڼه د راپور چمتو کولو جوګه اوسي.

سربېره پر دې چې دغه ټکي ته پاملرنه نشي کولی، ځيني وخت د راپور ليکو پرمهال يې بنسټيز آرونو ته پام هم له نظره غورځيږي؛ ځکه نامسلکي کسان ډېری وخت يوازې پېښه رپوټ کولای شي، خو په پېښه کې له پرتو سوژو ناخبره پاتې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې دغه خلک د سوژې پاڼه نه شي اړولی، نو واقعيي رسنيز کار به څنگه ترسره کړي؟

دغه خلک راپور ليکلو ته د املا په سترگه گوري، چې څرنگه په اورېدل شوې خبرې دکاغذ سپين مخ تور کړي، خو له دې پوهې لرې وي، چې د دې اورېدل شوې خبرې شننه او سپړنه زه بايد په کومو مسلکي مهارتونو ترسره کړم؟

که چېرته يو کس ولسمشر يا بل کوم لوړ پوړي امنيتي کس پسې سپکې – سپورې او بدې – ردې ووايي، نو نامسلکي کس به دا مسله څه ډول اخلي؟

آيا همدې اورېدل شوې خبرې ته به د راپور جامه اغوندي او که د پېښې ژورو ته به کېوځي، چې د دې سړي د قهر او غوصې اصلي لامل او دليل څه شی دی؟

ولې دې ته اړ شو، چې خپل لوړ پوړي چارواکي ته دغه ډول ترخه الفاظ او خوله وکاروي؟

ممکن د هغه کوم زوی د ړانده بمبار ښکار شوی وي، يا يې په قضا کې روانه دوسيه د رشوت ورکولو پرته پرمخ نه ځي؟

او که کوم حکومتي زورواکي يې کور، ځان، مال او يا ناموس ته زيان رسولی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاً دا مسلکي فکر دی، چې د مسلکی زده کړو پرته يې نامسلکي کسان په لومړیو کې د فکر تر لمنې نه شي راوستلای.

د ښکېلو غاړو ترمنځ د ادعاوو او نښتو په اړه راپور بله هغه موضوع ده، چې نامسلکي کسان يې په تفکیک او توازن کې پاتې راځي.

کله چې یوه ډله د بلې هغې د ځېلو خبر ورکوي، څه باید مسلکي ژورنالېست یا خبریال ترسره کړي؟

دلته کوم کس دی، چې د مسلې شننه پرې خبریال وکړي او د راپور مخاطبانو ته د فکري شننې د جاج دروازه خلاصه کړي.

په دغه ډول راپور کې نه یواځې دا چې د هغې بلې غاړې د نظر پوښتنه حتمي وي؛ بلکې د راپور توازن ته هم په کلکه پاملرنه په کار ده. که یو لوری خپلو وژل شویو ته شهید او د بل لوري لپاره کومه بله کلیمه وکاروي، نو دې برخې ته باید مسلکي خبریال په خپلو الفاظو او د راپور لیکلو په کلیماتو کې څه ډول ځای ورکړي؟

آیا همدې اورېدل شوې خبرې ته به هوا ورکوي او که خپله مسلکي پوهه به په کار اچوي؟

یا که چېرې د ولسمشر کاري موده پای مومي، خو د سترې محکمې له لوري دغه موده شپږ میاشتې غزیږي. دلته دغه چاره د ولسمشریزو نوماندانو له کلک غبرګون سره مخ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوماندان کنفرانس جوړوي او د دغې چارې پر وړاندې غبرگون ښايي. د دوی اساسي خبره دا وي، چې روان حکومت د مصلحت او معاملې په اساس رامنځته شوی، چې د جوزا له لومړۍ نېټې هاخوا مشروعيت نه لري.

خبريال د دغې موضوع اخېستنې په موخه تللی، نو دلته که چېرې خبريال مسلکي نه وي، ممکن همدغه د دوی ادعا او نظر راپور او خپور کړي، چې په بشپړ ډول د راپور توازن تر سوال لاندې راځي او نه يواځې توازن؛ بلکې د مالوماتو د ناخبرۍ له امله د راپور کره والی هم له منځه ځي.

همدغې موضوع ته که مسلکي خبريال تللای وي، د ادعاوو د راپور کولو سره سم ورته مقابل لوری مخته دريږي، چې بايد د دوی د ادعاوو په اړه ولسمشرۍ ماڼۍ هم وغږول شي، څو د دوی نيوکه او د هغوی ځواب دواړه واخېستل شي. که مسلکيتوب او تجربه دواړه پخه وي، نو په دې برخه کې د حقوقوي چارو يو کارپوه نظر هم اړين دی، چې دا موضوع له قانوني اړخه وسپړي.

چې په مسلکي ډول پوهه ونه لري، هغه ته د دې تفکيک ستونزمن دی، چې د راډيو، ټلوېزيون او يا مطبوعاتو لپاره راپور ليکنه کې يې کومو توپيري کړنو ته بايد پام وشي؟

د هغوی نه يواځې دې ټکي ته پام نشته؛ بلکې ځينې وخت ترې د راپور ليکنې هغه بنسټيز آرونه هم له پامه غورځول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول د سرچینې نوم او انځور په پټ ساتلو کې هم نامسلکه اشخاص مسلکي مهارت نه لري او نه شي کولای، چې د دغې ژمنې امانت وساتي. مهمه خبره دا چې ډېر کله دغو کسانو په سرعت سره دقت ښکار کړی وي.

له دوی څخه ناخبرۍ کې د ولسمشر، ملي اتلانو او د ټولنې د نورو محبوبو اشخاصو سپکاوی هم ترسره کېږي.

په دې کار سره نه یواځې دا چې توازن ته پاملرنه نه کېږي؛ بلکې د رسنیو څارونکي هم یوې پایلې ته نه رسیږي؛ ځکه د پوښتنې پر وړاندې چې ځواب نه وي، نو یوه پوښتنه نورې ډېرې پوښتنې راولاړوي. ذهن کې د نورو ډېرو پوښتنو د راولاړېدو له امله خپله راپور تر پوښتنې لاندې راځي.

دا په دې مانا چې د مسلکي خبریال بنیادي نکته د راپور ټولې خواوې او زاویې سپړل دي، څو د لیدونکو یا اورېدونکو په ذهن کې کومه پوښتنه بې ځوابه پاتې نه شي، خو د نامسلکو اشخاصو ډېری راپورونه د ډېرو پوښتنو د بې ځوابه پاتې کېدو سره یوځای پای مومي.

د مسلکي خبریال ذهن په دې سره هم خلاص شوی وي، چې که چېرې د مقابل لوري د کلپ په اخېستو ونه توانېدم، نو بیا باید له کومې کړنې کار واخلم؟

په دې هم پوهېږي، چې که ټلوېزیوني راپور لپاره د مقابل لوري څخه په انځوریزه بڼه د نظر په اخېستلو ونه توانیږي، څه باید ترسره کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا پوښتنه وړاندې له دې چې ځواب شي، که تاسې نامسلکه اوسئ، له خپل ځانه یې وپوښتئ او ځواب یې کړئ!

ممکن ذهن مو ډېر ژور تللی وي، ممکن ووایاست دا به کومه پېچلې کارنامه وي چې ترسره شي، خو دا ډېره اسانه کړنه ده، یواځې د پوښتلو موخه یې مسلکي کنجکاوي وه، چې مسلکي خبریال یې د خپل ځان ملګری ګڼي.

هغه دا چې مسلکي کس د مقابل لوري نظر د راپور له پامه هېڅکله نه غورځوي؛ ځکه هغه ته راپور د مقابلې د ډګر او مېدان رول لري، چې په کې د یوې خوا نظر په نه لرلو د سیالۍ ترسره کول په بشپړول ډول د خندا وړ ښکاري.

دې وخت کې که انځوریز نه وي، غږیز او که دا هم ونه شي، په خپلو الفاظو د هغه غبرګون لیکل پکار دي.

که څه هم دا دوه نورې کړنې د کمزورۍ نښې دي، خو بیا هم له اورېدونکو یا لیدونکو د مقابل لوري د نظر نه لرلو له امله د ښښنې غوښتلو پرځای دغه چاره غښتلې بریښي.

که په مدینه منوره یا مکه معظمه کې داسې څه پېښ شي، چې په لویه کچه یې خبري ارزښت د ټولې نړۍ له مسلمانانو سره تړاو ومومي، نو یو نامسلکي کس لپاره به ډېره سخته وي، چې د خبر ارزښت په کورني او بهرني چوکاټ کې مالوم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز دوی دې وخت کې دې برخې سره هم له ستونزو سره مخ کیږي، چې چېرته یې ځای او څه ډول د ورته والي پرلپسینه (منطقي تسلسل) کې یې راونغاړي؟

د راپور ټولو سرچینو ته رسېدنه د نامسلکي کسانو پر وړاندې بله لویه ننګونه ده، چې نه شي کولای د خپل راپور ټولې سرچینې پیدا او څرګندونې یې ولري، چې دا د اماتورو خبریالانو ستره نیمګړتیا ده.

د دوی دغه نیمګړتیا ډېری وخت د مقابل لورو د حساسیتونو د زېږېدو سبب کیږي، چې هغوی ته د پارونې حس ورکوي او اړ کیږي، څو په غبرګون لاس پورې کړي.

نامسلکي کسان د یوې چاودنې پرمهال دا مسلکي تفکیک نشي کولای، چې دا چاودنه عادي، زوروره او که درنه چاودنه وه؟

د دې درې کلیمو ترمنځ جلا والی هغه وخت کېدای شي، چې مسلکي پوهه شتون ولري.

دغه ډول د ګواښ، ټینګار، یادونې، اخطار، ګوت څنډنې، پړه، مسوولیت، تور، سپارښتنه، له امله، پرمهال او د داسې نورو کلیمو کارونه بله هغه موضوع ده، چې د مسلکي پوهې نشتون له امله یې پرځای کارول ستونزمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چارواکو، استازو او مسوولینو ترمنځ مسلکي تفکیک او د دغو کلیمو استمال د نامسلکو لپاره یوه بله ننګونه ده، چې له امله یې نه شي کولای هره کلیمه په خپل ځای کې ادا او وکاروي.

په چاپیزو او برېښنایي برخو کې د وزارتونو او ولایتونو د ویندویانو د نظر اخېستو پرمهال د هغوی انځورونه خپرول بله هغه مسلکي کړنه ده، چې له امله یې د موضوع بحث کم ارزښتنه کیږي؛ ځکه خلک په انځوریزه برخه کې د پېښې یا موضوع اړوند څه لیدل غواړي، چې د ویاند انځور په لیدو یې تنده هماسې په خپل ځای پاتې کیږي او نه یواځې دا بلکې که تولیدي موضوع باندې کار شوی وي، نو د ویاند په تبدیلېدو او یا لرې کېدو سره هغه موضوع په بشپړ ډول پخواني وخت پورې تړل کیږي، چې بیا وروسته مهال کې وخت ته په کتو د راپور ارزښت په پوره مانا له منځه ځي.

په دغه وخت کې د مسلکي خلکو فکر د اشخاصو پرځای د پېښې په موضوعاتو راځرخي، چې ورته د نه لاسرسي پرمهال د شخص پرځای د ودانۍ پر سر د وزارت، ریاست یا بلې کومې ادارې لیکل شوی نوم را اخلي؛ ځکه د وزارت، ریاست یا بلې کومې ادارې نوم ثابت، خو د ویاندویانو دندې ناثابتې وي.

کنفرانسونو کې پاکټونو او خوراکونو ته خپلې سترګې څلور کول او ورته تمې کول هم د مسلکي پوهې د نشتون له امله ترسره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې پرته په رسنيو کې د ورځې په لسګونو داسې موضوعات پېښيږي، چې په کې نامسلکي کسان د مسلکي نيمګړتياوو له امله ټولنه کې د خلکو، ډلو او ګروپونو ترمنځ د اختلافاتو او ستونزو د زيږېدلو لامل ګرځي.

**ب: تخنيکي نيمګړتياوې:**

معمولاً هغه نيمګړتياوې چې په خپرنيزو توکو کې موجودې وي، ټول يې د اېډېټ اړخ سره تړاو نه پيدا کوي؛ ځکه له اېډېټ وروسته بايد مسوول شخص واوسي، چې ترتيب شوي خپرنيز توکي له خپل نظره تېر کړي، خو که په دغه برخه کې کوم نامسلکه کس شتون ولري، د نشر ټول مواد شنيږي؛ ځکه دغه کس ټول خپرېدونکي مواد په مسلکي توګه نه شي څارلی.

له عادي متنه واخله، تر غږيز او انځوريز فايله پورې ټول مواد بايد د ارزيابۍ له برخې په دقيق ډول فلټر شي؛ ځکه په دې سره دا ډاډ ترلاسه کيږي، چې د خپرنيزو توکو نيمګړتياوې ختمې او اصلاح شوي دي، خو د دې نيمګړتياوو پېژندل يواځې لفظي ناسمي نه ده؛ ځکه په هغه برخه کې د اېډېټ برخه له نورو ډېر مسووليت لري.

د ارزيابۍ په دې فِلټر کې متنونه، انځورونه او د خپرنيزو توکو ټول تخنيکي اړخونه چې د سيمو انځورونه، موضوع سره د ويډيو اړيکه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې اوډون، غبر او نور هغه څه اصلاح کيږي، چې تېروتنې په کې شتون ولري.

د سيمي ژوندي پوښښ پرمهال هم د نامسلکيتوب له کبله د ډېر کله د نورو نيمگرتياوو ترڅنگ تخنيکي نيمگړتياوې ترسره کيږي.

دا مسايل مسلکي پاملرنه غواړي، چې پرمټ يې د رسنيو مورال لوړ او پرې ځواکمنتيا اخلي. ځواکمنتيا او لوړ مورال د ډېرو مخاطبانو پام ځانته اړوي، چې په دې سره نه يواځې رسنۍ له هر پلوه په خپلو پښو درېږي؛ بلکې لانور ځواکمن قدمونه هم اخېستلی شي، خو يوې رسنۍ دغه هيله بيا هغه وخت د پوره کېدو له توانه وځي، چې دغه ډول خواوې له تېروتنو ډکې او د نامسلکيتوب له امله ورته هېڅ پام نه شي کېدلی.

په تخنيک کې د اېډېټ برخه خورا مهمه ده، چې بايد د پروگرامونو اوډون په مسلکي ډول وشي، کوم ځای کې کوم مواد د کارونې لپاره په کار دي؟

نامسلکه اشخاصو ته په راتله ډول دا نه جوتيږي، چې د دوی د پوښښ ساحې پورې د کوم قشر اورېدونکي لري؟

ايا ډېره برخه يې ځوانان دي او که سپينږيري؟

ايا پېغلې يې ډېر څاري او که سپين سرې ښځې!؟

ماشومان يې اوري او که لويان؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مسلکي اړخه دا مسله ځکه مهمه ده، چې په دې سره د رسنیزو ادارو موخه څرګندیږي او هماغسې اورېدونکو ته په کتو سره بیا خپل پروګرامونه او خپرنیزه کړنلاره جوړوي.
په مسلکي ډول د خپلو اورېدونکو د مالومولو لپاره بېلابېلې لارې دي، چې پر مټ یې په ډېرې اسانۍ سره دا جوتېدای شي.
لکه د ټولپوښتنو له پلوه، د خپرونو ترتیبولو، ژوندیو خپرونو کې داړیکو له مالومولو او نورو ډېرو لارو څخه خپل دغه هدف ترلاسه کولی شي.
خو د نامسلکي اشخاصو د کړنو په پڅ بهیر کې ډېر داسې کارونه او فعالیتونه ترسره کیږي، چې موخې یې مشخصې نه وي؛ د بېلګې په ډول که د خبرونو، روغتیا، لوبو او نورو ټولنیزو خپرونو لپاره مسلکي او وړ کس ونه ګمارل شي او هر څوک خپله چاره پرمخ یونسي، دا خپرونې به نه لیدونکي ولري او نه هم ارزښت.
د مخاطبانو په نه درک سره هم رسنۍ خپلې خپرونې له تخنیکي اړخه نه شي ترتیبولی. د هرې خپرونې د پیل لپاره نه یواځې دا چې اعلانات او بازار موندنه وشي؛ بلکې وړاندې له دې خبرو د مخاطبانو ارزونه په کار ده، چې د څه ډول پروګرامونو د پیل غوښتونکي دي؟
ایا دا خپرونه به د ټولنې په ګټه او شته نیمګرتیاوې به ختمې یا کمې کړي؟
دا به د ټولنې کوم رنځ ته مرهم او دوا وګرځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خپرونه باید په کومه بڼه وړاندې شي، څو د ډېرو مخاطبانو توجو خپله کړي؟
کله چې رسنۍ دغه ډول پوښتنو ته ځواب پیدا او خپل مخاطب ته په ارزښت قایله شوه، نو دغه رسنۍ به په ډاډه زړه خپل فعالیتونه مخته وړي، پرځان بسیاینې لور ته به ځي او د پرمختګ مزلونه به کوي.
دا پورته هغه نکتې وې، چې مسلکي اشخاص یې مخته وړلی شي او که خبره نامسلکو ته پاتې شوه، د دې پورته خبرو برعکس به هر څه سرچپه او بل ډول روان وي، چې په پای کې به افغاني رسنۍ د زوال لور ته په دغه سفر کې خپل ځان د صفر سره ضرب حساب کړي.

**ج : ټولیزې نیمګړتیاوې:**

له ټولو لویه نیمګړتیا په پردي مسلک کې کار کول دي، چې دغه نیمګړتیا هم شخصیت او هم کارکوونکې ادارې ته زیان رسوي.
د نامسلکیتوب پرمهال ډېری وخت د تعادل او جانبینو حقوق له نظره لوېږي، چې دغه چاره هم د رسنیو قانون ۴۰ مې مادې د سراحت په اساس، چې د انتقاد کوونکي او انتقاد کېدونکي د حقوقو په برابرۍ ټینګار کړی، تر پښو لاندې کېږي.
که چېرې د یوې ادارې لپاره غېر مسلکه خلک په ترتیب شویو دندو وګمارل شي، موخو او اهدافو ترلاسه کولو کې د ستونزو پېښېدو سربېره په داخلي او خارجي چاپېریال کې ډېر خنډونه زېږېږي؛ ځکه نامسلکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان که هرڅومره هم هڅاند او خواري کښ اوسي، خو بیا هم خپل مسوولیتونه د بشپړې پوهې نه لرلو له امله نه شي پېژندلای او کاري ډگر کې ورته ډېری وخت خنډونه رامنځته کیږي.

په بل مسلک کې کارکوونکي خلک په دې اگاه نه وي، چې څنگه خپل مسوولیتونه وپېژني؟ څنگه یې سرته ورسوي او په کوم ډول خپلو مسوولینو او خلکو ته راپور وړاندې کړي؟

د دوی رسنیزې چارې ډېری وخت نیمگړې او تل په دې فکر کې وي، چې څنگه کولای شي د نورو په تقلید سره ځانونو ته روښنایي وروښني.

اداره چې هدف ټاکلو کې بنسټیز رول لري، د خپلې دغې موخې او هدف ترلاسه کول ورته د نامسلکو پر مټ له کگلېچونو او کړکېچونو څخه ډکه خبره ده او کېدای شي، چې ځینو مواردو کې نامسلکه کس سهواً او یا قصداً یوې رسنۍ ته تر زوال او ختمېدو پورې زیان اړوونکي واقع شي؛ ځکه دوی نه یواځې دا چې له موخې او هدف سره د ادارې واټن رامنځته کوي؛ بلکې د خپلو کمزورو او نامسلکي کړنو پرمټ د رسنۍ د کتونکو او څارونکو د کمېدو لامل هم کیږي، چې پای کې د ستر اقتصادي زیان لامل گرځي.

د نامسلکي کسانو په شتون کې رسنیزه اداره له سختې اقتصادي کمزورتیا څخه سر ټکوي، چې همدغه د کمزورۍ لامل یې بېرته د ښه پلان او ښه نشراتو نه لرلو پایله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامسلکي اشخاص د بشپړې مسلکي پوهې نه لرلو له امله نشي کولای، د یو ځواکمن نېټ ورک په څېر کلنۍ او میاشتنۍ بودیجه ځانګړې کړي؛ ځکه دوی د خپلې رسنۍ ټولو برخو ته پاملرنه د کمې مسلکي پوهې له امله نشي کولای او په کاري برخه کې ډېری وخت له دغې ستونزې څخه په وېره تېروي.

هغه کسان چې یواځې د ژورنالېزم یا د خبر او راپور له کلیمې سره اشنا دي، له بده مرغه نور په دې نه پوهېږي، چې ولس له ما څه غواړي او مسلک راته د کومو کړنو ترسره کولو او یا نه ترسره کولو امر کړی؟

دوی نهٔ د ولس غوښتنو ته ځواب ویلای شي او نه هم د هغوی غوښتنې درک کولای شي.

نا مسلکه کسان د مسلک اخلاق، اصول، قواعد او کړنې په ښه ډول نه پاللی او نه هم ساتلی شي.

له دوی څخه په رسنیو کې هغه څه خپرېږي، چې اصلا ولس ترې تمه نه لري؛ د بیلګې په ډول مخشوش کوونکې خبرې، د ټولنیز چوکاټ نه وتلې جملې، مبتزله موسیقي، د اذهانو خرابولو لپاره ناسمې او نا غوښتونکې خپرونې، خپل سري کارونه، د مسلکي کامندانو په سمو کارونو کې مداخله او داسې نور چې له امله یې د کلتور او ایین پالونکې افغانه کورنۍ د خپلو غړو سره نشي اورېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوی څخه په بې خبرۍ کې عامه فکرونه تخریبېږي او سپېڅلي مسلک ته صدمه رسېږي. همدا صدمه د دې سبب گرځي، چې ټولنه کې د رسنیو انځور بدرنګ شي. د رسنیو د بدرنګ انځور جوړېدو له امله مسلکي اشخاصو ته ټولنه کې د توهین زمینه برابرېږي؛ ځکه دوی د دې پرځای چې د ولس او یا خپلو ستونزو ته پام وکړي، د ناسالمې سیالۍ له لارې د پرمختګ او بریالیتوب هڅې کوي. له همدې امله پرته له دې چې سالم او ناسالمو لارو ته فکر وکړي، د خپلو عایداتي سرچینو د پیاوړتیا لپاره ټولې لارې ازمایي.

سوداګریزو اعلانونو کې معیار ته ځکه پاملرنه نه کیږي، چې له رسنیز معیار څخه ناخبره وي. که په لنډو ووایو، کرار- کرار د دوی دغه ډول هڅې ژېړ ژورنالېزم ته لار پرانیزي.

نو دلته په رسنیو کې دغه ټولې ستونزې د نامسلکیتوب له امله رامنځته شوي. نامسلکي خلکو د داسې خپرونو وړاندې کولو ژمنې کړي، کوم چې په مسلکي ډول د تطبیق وړ نه دي؛ له همدې امله ترې د ټولنې باور د ټول پوښتنې له مخې اویا سلنه سلب شوی دی.

نو د مسلکي کادرونو په وینا چې رسنۍ باید مسلکي اشخاص په خپلو دندو وګماري، داسې نه چې نامسلکو اشخاصو وړیا کار ته په خوشالېدو د ژورنالېزم مسلک بدنامه او ټولنه له خپل ځانه متنفره کړي. دلته له مسلکه د ناخبرتیا له امله د نامسلکو له لوري دغو مامولو جرمونو دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژورې ريښې غزولي، چې نږدې هره برخه کې د کلتورونو او اخلاقي وجدانونو دروازې وتړي.
د ژورناليزم مسلک استادان وايي، هغه ځوانان چې د ژورناليزم د اخلاقو په اړه په څه نه پوهيږي او په رسنيو کې کار کوي، اصل کې بې مسلکه او د مناسبو خپرونو د توليد لپاره يې لازمه روزنه نه ده ليدلې.
د بې مسلکيتوب له امله نشراتي برخه هم شنيږي. ډېری وخت د لمانځه او يا اذان پرمهال د مستې موسيقۍ خپرول د دې سبب گرځي، چې د اورېدونکو په ذهنونو کې د رسنۍ پروړاندې کرکه رامنځته او حساسيتونه راوپاريږي. بل لور ته دغه غير اسلامي فرهنگ د دې لامل کيږي، چې خلک د حقيقت له لارې واوړي.
ټوله ورځ مبتذله موسيقي، خپرونه کې نجونو سره له چوکاټه وتلې ټېليفوني خبرې او په بې گټو او غير اړينو موضوعاتو بحثونه هغه څه دي، چې پرې نه يواځې محافظاکارانه ارزښتونو پيماليږي؛ بلکې ټولنه هم د انحراف پر لور درومي او په دغه ډول پروگرامونو د رسنيو  حېثيت د لمنځه تلو له گواښ سره مخ کيږي.
د ځينو بهرنيو او لوړو رومانتيکو سيريالونو يا ډرامو په ليدو افغاني ټولنه کې د يوې کورنۍ ترمنځ اتفاق او يووالی له منځه ځي؛ ځکه د داسې خيالي سيريالونو او ډرامو خپرول زموږ په څېر ټولنه کې ډېرو مېرمنو او نجونو ته يو ډول غير حقيقي هيلې ورکوي، چې پايله کې يې نه يواځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورني جنجالونه رامنځته کيږي؛ بلکې ډېرى وخت نجونې د دغه خيالي ډوله ژوند لټون او ترلاسه کولو لپاره له کورونو څخه په تېښتې خپل ټول ژوند د اغزو په څوکو د دردونو سر مل تېروي.

دا ډول بهرنۍ نندارې زموږ له کلتوري او فرهنګي ارزښتونو سره هم اړخ نه لګوي؛ ځکه د ټلوېزيون پر ښيښه د مينانو ترمنځ بېلابېلې نخرې او کړنې له ځنډه پرته د مشرانو او عالمانو غبرګون راپاروي، همدا بيا د دې لامل کيږي چې دغه خلک رسنۍ د خلکو لپاره زيان رسوونکې وربېژني.

نو د مسلکي روزنې نه شتون له امله نامسلکي کسان خپلې دندې ته د سات تېرۍ په سترګه ګوري، چې دا د سات تېرۍ فکر يې ټولنې لپاره د فکري بربادۍ لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## د نامسلکیتوب بدې اغېزې

### الف : په مسلک د نامسلکیتوب اغېز:

که څه هم وړاندې له دې د ژورنالېزم په برخه کې دومره مسلکي او تخنیکي کادرونو شتون نه درلود، خو د طالبانو له واکمنۍ وروسته چې نوی حکومت منځته راغی، بهرنیانو له ځان سره د ځینو نویو تخنیکي وسایلو په راوړلو ژورنالېزم ته نوی ژوند وروبښه.
د دغو نویو وسایلو او د رسنیو په ډېربښت سره مسلکي او وړو کسانو لپاره جدي اړتیا پیدا شوه، خو نشتون یې کاري برخه کې د نامسلکو لاس ازاد کړ.
دغو خلکو په رسنیز ډګر کې ټول هغه څه چې زړه یې غوښتل، و ازمایل.
همدغه وو چې نامسلکي خلکو لکه د مافیا کړۍ هر اړخ کې ژورنالېستیک اصول مات او د اوږد مهال لپاره یې دې ډګر ته سرخوږی جوړ کړ.
د رسنیو په مدیریت کې نامسلکیتوب بیا هغه څه دي، چې په نامعیاري او ګډ- وډ سیستم سره ملي ګټې له شخصي ګټو قرباني کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی دغه راج د دې سبب گرځي، چې د ځان په څېر نور خلک هم په لنډو میاشتني کورسونو او ورکشاپونو کې وروزي او د نامسلکیتوب تخم په شیندلو سره د مسلکي کسانو لپاره لوی سرخوږی جوړ کړي.

مسلکي مشرانو که څه هم دې برخه کې نوې تگلارې جوړې کړې، څو پرمټ یې هرې برخې او دندې ته وړ کسان وروپېژني، خو دلته د سرچپه او نامسلکي کړنو شتون د دې هڅو مخه تر ډېره بریده ډب کړې ده.

رسنیزه برخه کې د نامسلکو اشخاصو شتون د ظرفیت ټیټوني سربېره دغه مسلک باندې د تور داغ په څېر یو ښاپ لگولی؛ ځکه چې مسلکي کسان نه پرېښودل کیږي، څو د هېواد او رسنیز ډگر په ودانولو کې رغنده رول ولوبوي. د نامسلکو کسانو له لوري افتخاري دندو ترسره کول هغه څه دي، چې له امله یې د مسلکي کسانو ځایونه اشغال شي.

د رسنیو ځینو مشرانو هم دغه چاره د خپلې پانگې د سپما لپاره گټوره بللې او د وړیا کارکوونکو په گمارنه یې خپلو نشراتو ته دوام ورکړی، چې همدا کړنه یې د دې سبب شوې، څو د رسنۍ هغه لوړ ارزښت د ټولنې پښو ته راټیت او د ولسواکه نظامونو څلورم ځواک بې ځواکه شي.

د لوستو مسلکي ځوانانو پر وړاندې هم همدا سترې ننگونې دي، چې نه یواځې له خپلو دندو یې بې برخې ساتلي؛ بلکې د وخت په تېرېدو یې له مسلکه هم زړه توري کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسنیو په راس کې ډېرې نامسلکه خلک د خپلې څوکۍ له وېرې د ځان په څېر نامسلکه او نااندېوله کسانو ته د بل مسلکي کس په پرتله لومړیتوب ورکوي، څو په پالیسۍ جوړونه او نورو عملي برخو کې ورسره په پټو سترګو د "هو" سر وخوروي، چې د دغې چارې زیان لومړی په مسلک او بیا په ټوله کې ټول هېواد ته رسیږي، چې له امله یې بلاخره د مسلکیتوب اصل هم کرار- کرار له منځه ځي.

معمولاً د ټولو مسلکي زده کړو په جریان کې زده کړیال باید په عملي ډول د خپل مسلک اړوندو برخو کې په عملي دندو وګمارل شي او اداره هم ترې د یوې مسلکي بوختیا لپاره کار واخلي. د دغه عملي کار اصلي موخه دا ده، چې له فراغت وروسته ځوان خپلې دندې سره اشنا او له پیلېدا سره سم یې په مینه پرمخ بوځي.

د مسلک په مېدان کې د نامسلکو اشخاصو شتون په مسلکي ډګر ستر زیان پرې باسي؛ موږ یې د زیانونو څو بېلګې په لاندې ډول یادوو:

1. د بې کېفیته نشراتو وړاندې کول
2. د خپلو ناکامو کړنو پړه په نورو اچول، چې دا چاره په مسلک او مسلکي خلکو بده اغېزه کوي
3. د ګډ کار کولو (Team Working) وړتیا نه درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. د ګټور نشراتي پلان نه لرو سربېره واضح او څرګندې موخې نه لرل
5. پرته له معاشه کار کول
6. خپلو همکارانو ته د مسلکي پوهې نه شتون له امله په مسلکي مشورو او لارښوونو کې پاتې راتلل.
7. د اړوندو رسنيزو چارو په ترسراوي کې له بېلابېلو ستونزو سره مخ کېدل
8. رسنيز ډګر کې د تقليد دود رامنځته کول
9. د مسلکي او وړو کسانو ځايونه اشغالول
10. رسنيز ډګر نوم بدی کول او د خلکو له پامه يې غورځول.

کله چې کاري ډګر کې دې ته ورته نورې ډېرې ستونزې د نامسلکو له لوري په رسنيو کې رامنځته شي، نو ښکاره ده چې ډېرې بدې اغېزې به په مسلک او مسلکي وګړو وکړي او دا بد اغېز بيا اخر کې د دې سبب ګرځي، چې رسنيز ډګر بدنامه او د کارونو پايلې يې بې خونده، پيکه او له ملاحظاتو ډکې شي.

د هېوادونو ساتنه او لوړتيا مسلکي کسانو په شتون سره کيږي، چې نامسلکي کسان د مسلک ترڅنګ ټول هېواد ته د بربادۍ لامل کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب: په کلتور د نامسلکیتوب اغېز :

پر افغاني ټولنه د رسنیو اغېز په اړه د کابل پوهنتون استاد پوهاند محمد اسمعیل یون د خپلې ماسټرۍ په تېزس (افغاني اوسنۍ رسنۍ) کې ویلي، چې د هرې پدیدې شتوالی د ټولنې له اړتیا سره اړیکه لري.

په ټولنه کې ټول رامنځته شوي شیان د یوې اړتیا له مخې پنځېږي، چې رسنۍ هم په همدې ډول د افغاني ټولنې له اړتیاوو سرچینه اخلي.

زموږ اوسنۍ رسنۍ پر ټولنه خپل تاثیرات لري، خو د ټولنې هم خپل تاثیرات پر رسنیو موجود دي.

ځینې هغه رسنۍ چې له بهرنیو سرچینو خړوبېږي، د افغاني ټولنې د تعاملاتو ډېر خیال نه ساتي، خو بیا هم پر ټولنه خپل زیاتره منفي او په ځینو برخو کې یو څه مثبت تاثیرات پرېږدي.

رسنۍ لکه څنگه چې په نورو ټولنو کې د خلکو د ذهني ودې سبب گرځي، زموږ په ټولنه کې هم دا حالت لري، خو دلته څه ناڅه په ځینو برخو کې د انارشۍ سبب گرځېدلی.

په دغه تېزس کې دا اغېز په ولس (لوستی او نالوستی) روښانفکره او حکومتي چارواکي یاد شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولس کې د بېلابېلو پاړکو د ډلبندۍ او په خپله د رسنيو د بنې او ظرفيت له مخې د رسنيو تاثير پر ټولو خلکو يو شان نه دی. دلته کولای شو ټولنه له ذهني پلوه په عوامو او خاصو يا عوامو او روښانفکرو پاړکو ووېشو:

الف - عوام: پر ذهنونو د رسنيو تاثيرات دې ډله کې بېلابېل دي. د روښانفکرو، عوامو او په تېره بيا نالوستی له رسنيو يو ډول ګټه نه شي پورته کولی او نه هم له فکري پلوه ورته يوشان لاسرسی لري.

له فکري پلوه دباندې هم توپير لري؛ د بېلګې په ډول راډيو په کليوالي سيمو او ټلوېزيون په ښاري سيمو کې د عوامو پر ذهن خپل - خپل اغېز شيندلای.

عوام په دوو برخو وېشل شوی، چې يو يې لوستی او بل يې نالوستی قشر. له رسنيو څخه د دې دواړو قشرونو اخېستنه هم يو شان نه ده. لوستي عوام د رسنيو د پورته دوو ډولونو سربېره له چاپي او کتنيزو يا برېښناييزو رسنيو څخه که چېرې لاسرسی ورته ولري، هم ګټه اخېستلای شي.

نو که دې برخو کې مسلکي کسان شتون ونه لري، نو ممکن ډېری برخو کې يې نشرات د کلتور سره ټکر کې وي، چې همدا بيا د رسنيو په څارونکو خپل اغېز شيندي او افغاني کلتور ته زيان پرې رسيږي.

بل د افغانستان د اکثرو او ان څه کم ټولو رسنيو ژبه رسمي بڼه لري، ياني د ليک او کتاب ژبه په کې کارول کيږي، چې دا د عوامو له ژبې سره توپير لري، نو ځکه د عوامو يوه درنه برخه د رسنيو په هغې رسمي ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم نه پوهېږي، هغه چې دوی یې د رسنیو په بېلابېلو برخو کې کاروي، خو د عوامو لوستی قشر کېدای شي د ژبې له دې ډول کارونې ګټه اخېستلای وشي.

انځوریزو رسنیو کې انځور تر ډېره بریده د رسمي یا لیکنۍ ژبې ستونزه هواره کړې؛ ځکه چینایان متل کوي، چې له زرو کلیمو یو انځور غوره دی.

خو د نامسلکو له لوري سیالۍ کې د بریا په هڅه له داسې خوځنده او ساکنو انځورونو ګټه اخېستل کیږي، چې په ښکاره د افغاني کلتور لپاره زیان رسوونکي وي.

د رسنیو دې برخې ته لا هم ډېر مزل پاتې، څو د هېواد ابادو، غرو او رغو ته د افغاني کلتور په جامه کې ځانونه ورسوي.

نو د هېواد عوام (لوستي او نالوستي) په یو نه یو ډول له رسنیو او د هغو له بېلابېلو ډولونو سره تړلي دي. د مسلکي کارکوونکو په شتون سره همدا رسنۍ دي، چې د ولس ستونزې وخت پر وخت حکومت ته رسوي او د حکومت د مسوولینو پیغام پر ولس سپاري. هر کله چې عوام یا ولس له حکومتي چارواکو او یا یې له ناروا غوښتنو او ظلمونو تنګ شي، نو وروستۍ دمه ځای یې همدا رسنۍ شي.

ب - روښانفکره: اصلاً په رسنیو ډېر تاثیر د همدې روښانفکرو اشخاصو دی. رسنۍ په واقعیت کې د همدوی په زور وړاندې او وروسته کیږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د ممبر، وعظ او نورو غونډو په څواک دوی د ټولنې افکار رهبري کوي، چې له همدې امله ټولنه کې له نورو خلکو ډېر اغېز شیندي.

نامسلکي کسانو په شتون سره رسنیو نه یوازې زموږ د عوامو په ذهنونو تاثیر کړی؛ بلکې تر هغو زیات یې د روښانفکرو ذهنونو ته هم یو ډول کرکه درولې.

که د کیفیت په رڼا سترگې پټې کړو، افغاني رسنیو د کمیت له پلوه ښه مزل کړی، چې ډېری یې د بیان له ازادۍ څخه په گټې اخېستې په بېلابېلو بڼو خپل رول ترسره کوي. په دغه رول کې د ناپوهۍ له امله ځینو ځایونو کې د کلتور پخې پولې نړېږي.

رسنۍ په ټولنه کې د نویو پېښو، اصطلاحاتو او لغتونو ترڅنگ نوي کلتوري ارزښتونه هم رامنځته کوي.

خبرتیایي ټولنه کې د ژبې او کلتور د ساتنې په اړه استاد حبیب الله رفیع وایي:

((ژبني او کلتوري بدلونونه بریښنایي او گړندي نه دي، هربدلون لکه د مېوو د پخېدلو یا د کښتونو د رسېدو غوندې د زمان او مکان دشرطونو پر پوره پلونه ږدي او سنجېدلي او درانه گامونه اخلي.

له یوې خوا دخبرتیایي ټولنې چټک تگ او له بل پلوه ژبني او کلتوري تغیرات او د بدلونونو تدریجي گامونه د دې باعث گرځي، چې ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبې د نویو تعبیراتو او ادا په برخه کې ټکني شي، په ادا او تعبیر کې پاتې راشي او د غالبو ژبو او کلتورونو تر ژور یرغل لاندې واقع شي.))

نو دا چې د رسنیو په ډېرېدنې او کارېدنې سره هېوادنی کلتور بله بڼه اخلي، نو هغو کسانو چې په مسلکي بڼه یې ژورنالېزم نه وي لوستی، د بېلابېلو پروژو او پروګرامونو له لارې پرَدي کلتور او فرهنګ ته یو ډول کمپاین ترې کیږي. دا کمپاین شعوري یا غیر شعوري په دواړو بڼو کېدای شي؛ ځکه د کمې پوهې او خپلو کلتوري پولو څخه د بشپړو مالوماتو نه لرلو له امله ډېری نامسلکه کسان پرَدي کلتور ته لومړیتوب ورکوي او هغې ته افغاني ټولنه کې په ډېر ارزښت قایلیږي، چې په دې سره د ټولنیزو ستونزو سربېره کورني مشکلات هم زیږي.

دا چې دې هېواد کې ډېری رسنۍ د بهرنیو پانګو پر مټ تغذیه کیږي، نو له نورو هېوادونو دلته ډېره اړینه ده، چې مسلکي او په کار پوهـ خلک په کې وګمارل شي، څو د دغې غذایي رژیم تغذیه په سم ډول ترسره او دا غوړ یا خواږه ټولنې ته د شکر، فشار او د زړه د ناروغۍ په څېر د مرګوني رنځ لامل ونه ګرځي.

مسلکي اشخاص کولای شي، چې د بهرنیو موخو په شتون سره بیا هم خپله کلتوري پانګه لا بډایه او د فعالیت پر بنا د نړیوالې نقشې سره سم پرې خپل کلتور ته وده ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسنیو کې د مسلکي پوهې نه شتون د مړو د حرکت په شان ده، چې تل به د بل په اوږو او د نورو په څپو باندې مخته ځي.
مسلکي کس کولای شي، د رسنیز ډګر په دغه سمندر کې په پوره پوهې او مهارت سره لامبو ووهي او ځان ګټور مسیر ته ورسوي.
د نورو ژبو کلیماتو کارونه کې هم مسلکي پوهه په کار ده؛ ځکه زموږ پښتو ژبه کې د عربۍ ژبې سربېره د پارسي او انګلیسي ژبې تاثیرات ډېر زیات دي.
که یواځې عربي ژبه راواخلو، نو دې ژبه کې داسې ویې شته چې اوس یې زړه مانا په عربۍ ژبه کې بدله شوې ده.
نو مسلکي کس هم کولی شي، چې پښتو ژبه کې ورته منل شوي تعبیر سره نوې مانا پیدا او وکاروي؛ د بېلګې په ډول  د استثمار ویی پخوا د مېوې ټولولو لپاره کارېده او چا به چې په ناروا ډول د یوه ملت شتمني لوټله، دا ویی به ورته کارېده، خو اوس په نوې عربۍ کې دا د پانګې اچونې په مانا سره کارېږي، نو په پښتو کې هم موږ زېبښناک کلیمه د استثمار پرځای راوړې، چې داستثمار سیاسي ویي او لغت په ښه توګه روښانوي. همدا راز ښکېلاک هم داستعمار پر ځای او داسې نور ډېر ویي رامنځته شوي دي.
استاد حبیب الله رفیع یې په اړه داسې وضاحت کړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((د نوي تمدن ځينې وسايل چې په نولسمه او شلمه پېړۍ کې جوړ شوي، له خپلو عربي نومونو سره راغلي، خو موږ د خپلې ژبې د چوکاټ، اصولو او پوهاوي له مخې خپل نومونه ورته ايښي؛ لکه طيارې او جهاز ته الوتکه ويل؛ همداراز د لوبغاړي او لوبغالي ويي هم همدغه ډول واخلئ.

نو موږ بايد همدا لړۍ روانه وساتو او په ځانگړې توگه داطلاعاتو له بارانه د نويو څاڅکو د راتوېدلو لپاره چمتؤ اوسو او په خپله ژبه يې را واړوو، خو دا کار به د ژبې له ژبدود سره سم کوو او د يوې علمي ډلې تر بحث، څېړنې او ځيرنې وروسته به يې منـؤ، نو د هېواد علمي ادارې بايد د دې کار له پاره نه يوازې په پښتو؛ بلکې په دري ژبه کې هم علمي کمېټې وټاکي، څو موږ لغت جوړونه، تعبير کول او اصلاح يا سمونه د خپلو ژبو د اصالت او رسالت له ساتلو سره ترسره کړای شو.

زموږ گاونډی هېواد ايران د خپلې محاورې او اصطلاحاتو په چوکاټ کې لغتونه جوړوي او د سېل غوندې زموږ هېواد ته را روان دي، چې ځينې ايران زده او تيار خواره ليکوالان يې بې له فکره خپلې ژبې ته ننباسي او په يو بل ډول افغاني دري پردۍ کوي.

دغه ډول پښتو کې ځينې کسان له خپلو لغتونو سره د نااشنايۍ له امله بهرنۍ پارسي لغتونه په ژباړلي ډول ژبې ته ننباسي؛ لکه هوا دار په طرفدار ژباړې؛ سره له دې چې پلوی، مينه وال او لېوال ورته لرو، يا غزادار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوگوار ته مصیبت ځپلی لیکي، سره له دې چې ویرژلی، ویرمن، ویرجن او غمجن لرو، یا خاردار ته اغزی لرونکی وایي، سره له دې چې اغزن یا اغزین لرو؛ یا مثلا دروگر لَوکوونکی ژباړل کیږي، سره له دې چې د لوگري کلیمه لرو، نمایانگرو ته ښکاره کوونکی ویل کیږي، سره له دې چې ښکارندوی او څرگندوی کلیمې ورته لرو او داسې نور.))

نو ډله ییزې رسنۍ له نویو پېښو سره د نورو ژبو نوي تعبیرونه راوړي او د دغو نورو ژبو ننوتو کې یواځې مسلکي کسان کولای شي، چې په دې چټک بهیر کې خپله ژبه او فرهنگ وساتي.

که لنډه ووایو، نامسلکه کسانو خبرې او کړنې په ډېرې اسانۍ سره د نورو کلتوري یرغلونو ښکارېږي، چې له مسلکه په پټو سترگو خپل کلتوري ارزښتونه له لاسه ورکوي او د کلتوري ښکېلاک په کړیو کې به راگیر شوی وي.

کله چې رسنۍ په ټولنه کې د فشار قوه گڼل کیږي او هر خپرېدونکی توکی یې نېغ په نېغه د ټولنې په افکارو او اذهانو اغېز کوي، نو نامسلکي شخص د مسلک سربېره د کلتور او ټولیزو ملي گټو څخه د مالوماتو نه لرلو له امله اورېدونکې ټولنې ته په بېلابېلو برخو کې زیانمن تمامیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج: د ټولنې په اخلاقیاتو د نامسلکیتوب اغېز:**

رسنۍ د ټولنې د اصلاح په برخه کې لوی مسوولیت او ستر رسالت لري، چې باید د خلکو اذهان روښانه، ملي ارزښتونه پیاوړي، غوره اخلاق ترویج، دیني عقایدو او ملي ارزښتونو ته درناوی ولري.

خو هغه خلکو چې په مسلکي ډول یې دغه برخه کې زده کړې نه وي کړي، د غیر معیاري او افغاني کلتور خلاف خپرونې یې د دې لامل کیږي، چې په ولس کې لوی اخلاقي درز منځته راوړي.

هغو کسانو چې په مسلکي بڼه یو څه نه وي لوستلي، نه شي کولی په اساسي برخو کې بریالي پرمخ لاړ شي، نو دوی بیا زور هغه څه ته ورکوي، چې په ټولیز ډول ورته اسانه ښکاري. په هغه برخه کې هم د بشپړې پوهې نه لرلو له امله د ټولنې اخلاقیاتو ته ستر زیان رسوي؛ د بېلګې په ډول خپرونو کې د غیر اخلاقي ټوکو، سندرو او بې ځایه الفاظو استمال هغه څه دي، چې په ټولنه کې د اذهانو لوړاوي او د اخلاقیاتو غښتلتیا پرځای عامه ذهنونو ته لویه صدمه رسوي.

که چېرته د اطلاعات او کلتور وزارت یا ریاست په راس کې مسلکي او په کار پوهـ خلک شتون ولري، نو هغوی د رسنیو د قانون د لسم فصل ۴۵مې مادې له مخې چې رسنیو ته ښودل شوي اته ممنوعه مواردو باندې په ښه ډول عمل کوي.

د رسنیو قانون په لسم فصل ۴۵مه ماده کې ویل شوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. (( هغه اثار او مطالب چې د اسلام سپېڅلي دین له حکمونو او اصولو سره په ټوپیر کې وي.
2. هغه اثار او مطالب چې نورو ادیانو او مذهبونو ته د سپکاوي لامل وګرځي.
3. هغه اثار او مطالب چې د "حقیقي او حکمي اشخاصو"[2] د سپکاوي، تحقیر او د هتک یا حرمت لامل شي.
4. هغه اثار او مطالب چې پر حقیقي او حکمي اشخاصو افترا وي او د هغوی شخصیت او اعتبار په ټولنه کې زیانمن کړي.
5. هغه اثار او مطالب چې له اساسي قانون سره توپیر ولري او د جزا قانون کې جرم وګڼل شي.
6. پرته د اسلام له سپېڅلي دین څخه د نورو دینونو تبلیغول او ترویج.
7. د تاوتریخوالي او د تیري د قربانیانو د هویت او د انځورونو څرګندول په داسې ډول چې ټولنیز حېثیت یې زیانمن شي.

---

[2] په (نظریة الحق والالتزام) کتاب کې دوکتور وهبة الرحیلي حقیقي او حکمي اشخاص داسې پېژندلي:

((والشخص الطبیعي (الانسان) اعتباري کالشرکات ولمؤسسات فی الحقوق الاخری.))

۱- حقیقي دا چې یو کس د خپلو حقوقو غوښتنه کوي او بیا له هغې څخه دفاع کوي؛ مګر د نورو استازیتوب نه کوي.

۲- حکمي بیا هغه خلکو ته ویل کیږي، چې د نورو استازیتوب او یا یې پرځای تمثیل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



8. هغه اثار او مطالب چې د ټولنې د افرادو او په ځانګړي توګه د ماشومانو د تنکیو ځوانانو رواني امنیت او اخلاقي سلامت زیانمنوي.))

موږ په خپلو رسنیو کې د مسلکي کسانو د نشتون له امله د ورځې په کراتو – کراتو دغسې پېښې ګورو، چې په کې د قانون دغه مادې تر پښو لاندې کېږي.

که تبلیغاتو ته وګورو، نو تر ټولو ښه وسیله یې رسنۍ بلل کېدای شي، چې یوه ټولنه هم د پرمختګ پر لور سوقولی شي او هم یې د بربادۍ پر لور.

که رسنیو کې مسلکي کسان ونه ګمارل شي، لرې به نه وي چې ټولنه او په کې د شته افرادو اخلاق تیارو او کنډو – کپرو ته ولوېږي.

دا چې د عامه پوهاوي برخه کې د رسنیو رول د پام وړ دی، د ډېرو رسنیو رسنیز فعالیتونه د مسلکي کسانو د نشتون له امله یواځې په تفریح او سات تېرۍ ولاړ وي، نو د سیالۍ په برخه کې سرعت او تېزوالی یې د ټولنې په اخلاقیاتو بد اغېز پرې باسي.

زموږ د ټولنې ډېره برخه نالوستې ده؛ په ځانګړي ډول مېرمنې، نو هر کله چې مبتزلې تفریحي خپرونې د یو شمېر بې مسلکه کسانو له لوري، چې په هېڅ ډول د رسنیو اخلاق، معیار او مسلکي اړخ سره بلد نه دي، کورني نظام ته ستر سرخوږی جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمېر رسنیو کې د همدې بې مسلکه خلکو له لوري خپرېدونکو سندرو، ټوکو، بې ځایه خنداګانو، بې معیاره او بې تولې خبرو ستونزې زېږولي؛ ځکه دغه د زمزمو پرګرامونو په کورنیو او ټولنو کې د ډېرو ځوانانو او پېغلو اخلاقیات فاسد کړي دي؛ آن دا چې د دغو خپرونو له امله د میني او عاشقۍ په نامه ډېر کله د خلکو عزتونو ته له کوره د تېښتې او نورو اخلاقي فسادونو لاره خلاصه کړې.

د نامسلکو کارکوونکو په شتون کې د ټولنې په اخلاقیاتو د رسنیو بد اغیز هغه وخت لا ښه جوتېږي، چې د ټولنې شدیدې اړتیاوې درک نه شي او نه هم د خپرونو پرمهال کوم معیار په نظر کې ونیول شي.

دلته ده چې دوی له ټولو معیارونو ناخبره هغه څه نه شي وړاندې کولی، چې د ژورنالېزم مسلک پرې ټولنې ته د خپراوي تاکید کړی دی.

دا سمه ده چې د ژورنالېزم څلورم آر او اصل تفریح ده، خو تفریح باید په مسلکي بڼه سالمه وي، نه دا چې د ټولنې وګړي له خپل مسر نه خطاء کړل شي.

رسنیو کې د مسلکي کسانو فقر له امله سالمې تفریح ته نه کتل کېږي، هغه چې د ټولنې هر اړخ ته په کې فکر کېږي.

نامسلکي کسان د اخلاقیاتو د خرابولو سربېره د ټولنې تعلیمي کچه، عرف او عادات، کلتور او د ټولنې عامه ذهنیتونو ته زیان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د : د ټولنې په افکارو د نامسلکیتوب اغېز:**

همدا رسنۍ دي چې د ولس نماینده ګي کوي او رسنۍ د ولس پر زخمونو پټۍ لګوي، نو په کار ده چې خپل رښتینی مسوولیت په مسلکي بڼه ترسره کړي.

افغانستان کې له 2001 کال راهیسې د رسنیو خپلواکي له لویو لاسته راوړنو شمېرل کیږي. دا لاسته راوړنه دومره لویه ګڼل کیږي، چې نظام پرې له ټولو وړاندې ډېر ویاړ او له مهمو لاسته راوړنو یې بولي.

خو د نامسلکي خلکو بېلابېلې خپرونې او خبرې د دې سبب ګرځېدلي، چې دغه لویه لاسته راوړنه د ټولنې فکرونه منفي او بې ګټې لور ته بوځي.

د رسنیو په منځ کې نامسلکي کړنو د ټولنې په افکارو لوی زیانونه رامنځته کړي دي. دوی د رسنیو د قانون سربېره اساسي قانون له پامه غوځولی، چې په کراتو - کراتو دې برخو کې سرغړونې او ورانۍ لیدل شوي دي.

د قانون په هکله بېغوري، د شخصي او سیاسي ګټې اخېستنې ترڅنګ رسنیزه سوداګري هغه څه دي، چې نامسلکي اشخاص یې په ترسره کولو سره ټولنه کې د بد فکر رامنځته کولو لامل ګرځي.

د دوی غیر معیاري خپرونې او نامالومه تګلاره د دې لامل کیږي، چې په ډېرو ملي ګټو سترګې پټې شي. دا ډېره مهمه برخه ده؛ ځکه د داسې نیمګړتیاوو په تکرار سره نه یواځې دا چې رسنۍ د ټولنې له نظره لوېږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې د ټولنې ځوان قشر له فکري پلوه د خورا زیانمنو ستونزو سره مخ کولی شي.

په افکارو بله بده اغېزه دا چې د مسلکیتوب په نشتون کې رسنۍ د ډېرو ټولنیزو اخلاقو، نزاکتونو او ادابو پر وړاندې بې غوره پاتې کیږي او دا کړنه ورځ تر بلې د تکثر او ودې لامل گرځي.

د اساسي قانون د درېیمې مادې له مخې چې د اسلامي ارزښتونو په خلاف هر ډول کړنه او گام د منلو نه دی، نامسلکي کسانو دې ټکي ته په ناپامۍ سره د اخلاقو، ټولنې سلامتیا او نورو کلتوري او اسلامي ارزښتونو ته گواښ پېښ کړی، چې دا گواښ بیا د افغان ولس د کلتور، دود او اسلامي ارزښتونو سره د ټکر په پایله کې د ټولنې افکار د ستر اخلاقي خنډونو سره مخ کوي.

د اخلاقو سربېره رسنیو کې دغه ډول کړنو د افغاني کلتور حرمت هم زیانمن کړی دی.

له مسوولیت پرته اِجاره یي تگلاره رسنیو کې د نامسلکو ترمنځ بله ستونزه ده، چې اخلاقي او ټولنیز ارزښتونه تر پښو لاندې کوي. په هماغه کچه چې اساسي قانون د ډیموکراسۍ، ولسواکۍ او د بشر حقونو ارزښتونه په ځان کې ځای پرځای کړي، له دې ډېر یې د اسلامي، ټولنیزو اخلاقو، امنیت او کلتوري ارزښتونو پر ساتلو ټینگار کړی دی؛ ځکه د دیني قانون جوړونې له مخې دا د انساني حقونو، د کس له کرامته نیولې تر ولسواکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ارزښتيا د دين په کړۍ کې راځي، دا دواړه د يو بل سره په موازي ډول پرمخ ځي، چې هېڅ ټکر په خپلو کې سره نه لري.
شخصي موخو لپاره د ټولنې په افکارو لوبې کول د نامسلکو خلکو بله کړنه ده، چې د اساسي قانون خلاف د ملي ګټو پرځای د شخصي ګټو لپاره خپرونې او ورته لومړيتوب پرې ورکول کيږي.
دوی کې ډېری يې د ملي ګتو په پرتله د مادياتو يا نورو غرضونو له مخې شخصي ګټو ته لومړيتوب ورکوي، چې کېدای شي ډېرې لارښوونې يې د بهرنيو ګټو له مخې ترتيب او د ملي ګټو خلاف وي.
د دغو دلايلو له مخې نامسلکي اشخاص په بشپړه توګه له ملي ګټو ناخبره او د ارزښتمندو ملي نواميسو څخه سرغړوونکي پېژندل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## د مسلکي او غيرمسلکي اشخاصو ترمنځ توپيرونه

له توپيرونو وړاندې اړينه ده، چې نامسلکه يا اماتوران په دوو برخو ووېشو:

**الف: غير مسلکه مجرب**

**ب: غيرمسلکه غير مجرب**

لومړی يې نامسلکي مجرب ژورنالېستان دي، چې له بلها ککلېچونو، نيمګړتياوو او ستونزو وروسته تر يو بريده په دې توانېدلي، څو خپلې رسنيزې چارې تر کنټرول لاندې راولي؛ يانې دغې ډلې ټولنې او مسلک ته د زيان اړولو دور تېر کړی دی.

دوی د بار – بار سهوو او ډېرو نيمګړتياوو له ازمايلو وروسته يو څهٔ پوهـ شوي، چې لږ منظم پرمخ لاړ شي. تر دې کچې د سېدلو په هر بند کې دوی ټکرې خوړلي، څو ځان مجرب کړي.

دوهم يې نوې راټوکېدلي موسمي ډله ده، چې نامسلکي کړنې يې نه يواځې د ټولنې پر اخلاقياتو ناوړه اغېز کړی؛ بلکې د ژورنالېزم پر سپېڅلي مسلک تور داغ او هم د ملنډو باعث کرځېدلي.

که د مسلکي او نامسلکي اشخاصو توپير ته ځير شو، نو د رسنۍ او ولس ترمنځ ″باور″ تر ټولو مهم اساس دی، چې دا پخپله د مسلکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژورنالېستیکي اخلاقو اساس هم جوړوي. کله چې د رسنۍ او ولس ترمنځ باور شتون ونه لري، رسنۍ د ولس له سترګو لاندې پښو ته لوېږي، چې د بې باورۍ دغه بنیاد په رسنیو کې همدا نامسلکي وګړي رامنځته کوي.

د مسلکي کسانو په شتون کې ولس د رسنیو په اورېدو او پراخېدو سره ځان خوښ او په امن احساسوي.

ولس د خپلو ستونزو په اړه ښه واضح او ښکاره اطلاعات رسنیو سره شریکوي او دوی په دې قناعت حاصلوي، چې باید د ټولنې په منځ کې شته پټې سوژې، ستونزې او رازونه د رسنۍ مخته کېږدي، خو برعکس نامسلکي اشخاص د مسلک څخه د ناخبرۍ له امله نشي کولای، ولس ته دغه ډاډ ورپه برخه کړي.

مسلکي وګړي خپل ځان د ولس له فکره بهر نه باسي. د ولس هیلو او غوښتنو ته درناوی، متقابل احترام او باور ته ترجیح ورکوي، څو د ولس باور پیدا او رسنۍ د واقعیتونو په لټه کې د ولس او حکومت ترمنځ رښتینی پل شي.

په مسلکي چلند سره ولس په رسنیو باور او ډاډ پیدا کوي او دا د دې لامل کیږي، چې د هغوی له منځه د شویو پیښو، واقعیتونو او سوژو په اړه له ټولو وړاندې اطلاعات ترلاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نامسلکیتوب په شتون سره رسنۍ په ټولنې خپل اغېز کموي او نشي کولای چې د مسلکي کارکوونکو د شتون په څېر دې ژور اغېز پرې باسي.
د رسنیو له ازادۍ څخه نامسلکي خلک سم برداش نه شي اخېستلی، چې له امله یې ټولنې ته د زیان سربېره د وخت واکمن ته هم ستونزې زېږولی شي.
د اماتور ژورنالېستانو فکري تمرکز د ټولنې د ستونزو او د قانون د ښه پلي کېدا پرځای په مالي سرچینو او تمویلوونکو اشخاصو وي. همدا لامل وي، چې له هڅو او زیار وروسته هم په ټولنه کې اغېزمن نه تمامیږي.
نامسلکي کسان ډېری وخت کاري برخه کې له ستړیا شکایت کوي؛ څکه د سوژو پیدایښت او بیا منظم څارل ورته ستړي کوونکي وي، خو مسلکي خلک د خپلې مسلکي پوهې او زده کړې پرمټ کولی شي، خپلې ټولې چارې په ښه ډول رهبري کړي.
که یوې سوژې باندې نامسلکي او مسلکي دواړه په یو وخت کار وکړي، نو د کار په پایله کې په ښکاره ډول جوتیږي، چې مسلکي کس خپلې چارې په څومره بریالیتوب او څنګه پرمخ وړي، خو په مقابل کې بیا هغه کس چې مسلکي زده کړې نه لري، څومره یې چارو کې له ستړیا او ستونزو سره مخ شوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چارې په پایلو کې د دواړو ترمنځ ښکاره توپیر موجود وي. د مسلکي خبریال د راپور زاویه او په ننبه شوې سوژه دومره په زړه پورې او د ټولنې لپاره موثره وي، چې ټولنه کې د بنسټیزو بدلونونو د رامنځته کېدو سبب ګرځي.

د مسلکي خبریال اماتور سره لویې توپیر دا دی، چې مسلکي کس د مسلکي پوهې مهارت پر مټ په ازاد لاس موضوع باندې کار کولای شي، هغه له دې وېره نه لري، چې هسې نه ځینو ځایونو کې ناخبرۍ سره مسلکي او دودیزې پولې ترې ونړیږي؛ ځکه هغه ته له وړاندې خپل چوکات او حدودات مالوم وي.

مسلکي کس په یوې سوژې د کار پرمهال ځان د سوژې واقعیت او ژورو ته په ډېرې اسانۍ سره رسولای شي، خو دا رسېدنه بیا اماتور کس ته خورا ستونزمنه وي.

مسلکي خبریال ټولو خواو لپاره یو ډول معیار کاروي، اما اماتور چې خپله هم معیاري نه وي، نشي کولای معیاریتوب ته پام وکړي.

د خپلې سوژې په بشپړولو کې مسلکي کس شخصي خوښتوب او ناخوښتوب ته پام نه کوي؛ ځکه د ټولنې غبر پورته کول د مسلکي کس لپاره سره کرښه ده، له همدې امله د مسلکي کس راپور په زړه پورې او د ټولنې له پراخ هرکلي سره مخ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د سالم او پرمختللي سیستم رامنځته کولو لپاره مهمه ده، چې مسلکیتوب رامنځته شي، څو په سالم درېځ سره د خلکو اعتبار خپل او یو مسلکي چوکاټ تشکیل شي.

په رسمي ژبو برلاسې خبرې، د هېواد د ولایاتو په اړه کره مالومات او نوره ټولیزه پوهه او مطالعه هغه څه دي، چې د مسلکي زده کړو پرمهال مسلکي خلکو ته ښودل کیږي.

دا هغه څه دي چې پرته له مسلکي زده کړو څخه ترسره کول یې ستونزمن دي.

نامسلکي خلک د ژورنالېزم په لړې برخې د پوهېدو وروسته ځان د ډېرو لوړو کسانو منځ کې ویني، چې دا یې بیا د بې ځایه غرور او تکبر باعث ګرځي؛ اما برعکس عاجزي او ځان د ولس له غړو سره یوشان ګڼل د مسلکي کس بنیادي کړنه ده.

بې ځایه تکبر او غرور د شخص سربېره د رسنۍ اعتبار ته هم زیان رسوي، چې همدې او ورته نورو کړنو له امله دمګړۍ هم زموږ رسنۍ په دوامدار ډول کړیږي.

نامسلکي کس د خپلې بې پلوۍ په ساتلو کې هم ډېرې وخت پاتې راځي.

مسلکي کس ولس پلوه، خو نامسلکي بیا سیاست پلوه وي؛ یانې د سیاستونو په طرف کې واقع کیږي او دا ډول درېدنه د نامسلکو ترڅنګ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسنۍ لپاره هم د زوال باعث گرځېدای شي؛ ځکه ولس په خپل ځای پاتې کېږي، خو سیاستونه بیا حالاتو او وخت ته په کتو هر وخت بدلېدای شي. د سیاست مخ او شا مالومه نه وي او نه هم په سیاسیت کې تل پاتې دوستي یا دښمني شتون لري.

دا بیا یو بل بحث دی، چې زما په بل کتاب ″سیاسي ژورنالېزم″ کې پرې پراخ بحث شوی.

ولې د رسنیو اورېدونکي په زړهٔ پورې نشراتو اورېدو لپاره لږ وخت کې په پرلپسې ډول د رسنیو لیدل یا اورېدل بدلوي؟

دا ټوله موضوع د خپرېدونکو موادو محتوا پورې اړه لري او توپیر هم د دوی ترمنځ همدا دی. نامسلکي کس په دې نه پوهیږي، چې مخاطبان یې څه ته اړتیا لري؟

دغه ډول د خپرونې، ټاک شو، گردي مېزونو او اعلانونو په جوړولو کې له کومو محتویاتو گټه واخېستل شي؟

نامسلکي کسان خو لومړی په محتوا جوړولو کې له ستونزو سره مخ وي او که رامنځته یې هم کړي، نو د جوړونې پرمهال د خپلو کتونکو او څارونکو اړتیا او غوښتنو ته پام نشي کولای؛ اما مسلکي کارکوونکي بیا برعکس دا هڅه کوي، څو له کومو محتویاتو څخه په کار اخېستنې د ټولنې غوښتنې له پامه ونه غورځول شي او هم خپل رسنیز اعتبار غښتلی کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلکي اشخاصو له اماتورو کارکوونکو سره بل توپیر د مخاطبینو ساتل او درلودل دي. مسلکي کس د هغو چارو په لټه کې وي، چې پرمټ یې د خپلو مخاطبانو سربېره نور قشرونه هم د ځان پر لور رامات کړي، خو نامسلکي او اماتور کسان بیا په تقلید سره د هغه څه وړاندې کولو هڅه کوي، چې ولس یې د بار – بار لیدو له امله ستړی شوی وي.

همدا مسلکي اشخاص دي، چې د عامه ذهنونو او افکارو په روښانولو کې ستر رول لري.

ډېری نامسلکي اشخاص په دې نه پوهېږي، چې دوی باید ټولنې ته څهٔ وړاندې کړي او دغه څه چې وړاندې کوي، کوم زیانونه او کومې ګټې لري؟

د رسنیو له موخو ناخبره له نشراتي پلانه پرته یواځې په سندرو، ببولالو، زمزمو، او نورو افواهاتو باندې ځانونه د ژورنالېزم د یون لارویان ګڼل ډېره نامناسبه ده؛ ځکه یواځې په دغو برخو څوک ژورنالېست کېدای نشي.

د مسلکي کادرونو په وینا کوم کسان چې یواځې د پورته موضوعاتو له امله ځانته د ژورنالېست خطاب کوي، دا د ژورنالېزم سپېڅلي څلي او مسلک ته د توهین ترڅنګ په خپل ځان ملنډې وهل دي.

هره رسنۍ اړ ده، چې عامه افکار یو لور ته رهبري کړي. که چېرته مسلکي اشخاص د دې رهبرۍ په راس او داخل کې موجود وي، نو هېڅکله به د خپل هېواد ملي نوامیس، ملي ګټې او ملي امنیت ته ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېدا نه کړي او نه به هم بل چاته د دې اجازه ورکړي، چې د خلکو عامه افکار یا ذهنیتونه غلط لور ته رهبري شي.
د خپرونو، راپورونو، مرکو، تبصرو، تحلیلونو او داسې نورو پروگرامونو په جوړولو سره له خپلو مسلکي زده کړو گټنه په شعوري بڼه د خلکو ملي روحیه پیاوړې کوي او د ملي گټو لپاره کار کوي، چې دغه چاره د مسلکي زده کړو پرته ناممکنه ده؛ ځکه خو ډېر کله نامسلکي اشخاص غواړي، چې د رسنیو پر مټ ټولني ته خدمت وکړي او یادې موخې تعقیب کړي، خو په مسلک کې د پوهې نه شتون، نامسلکیتوب او کارونو ته نه پام یې د دې لامل کیږي، چې نه یواځې دوی په خپلو موخو کې پاتې راولي؛ بلکې ټولنه هم ترې خوابدې او په ناپوهۍ کې ترې ټوله ټولنه متضرره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپېږم څپرکی

### د مسلکي اشخاصو لاسته راوړنې

په تخصصي بڼه د ژورنالېزم زده کړې له امله په دې کم وخت کې مسلکي ژورنالېستان په دې توانېدلي، چې د پام وړ لاسته راوړنې ولري؛ د بېلګې په ډول که په جګړه ییزو حالاتو کې ټاکنې یادې کړو، نو د رایې ورکولو په جریان کې د رایې ورکوَنې په مرکزونو بریدونه او چاودنې کیږي، د خلکو تورې شوې ګوتې پرې کیږي، خو د مسلکي ژورنالېستانو له لوري په دغه ملي مسله کې مسلکي هڅې او کړنې د دې لامل کیږي، چې د عامه پوهاوي او بېلابېلو خپرونو او پروګرامونو پرمټ وکولای شي ولس ته قناعت ورکړي، چې پایله کې ولس د خپل سر په بیه هم دغه ملي مسله کې د خپل انتخاب کولو لپاره چمتو شي، څو د ولسواکۍ په تمثیل کې د خپلې خوښې نوماند ته رایه ورکړي.

نو د ډیموکراسۍ په دوره کې هم مسلکي ژورنالېستانو خپله پراخه ونډه لرلې او د بشري حقونو په ترویج کې یې خپل رسالت دوامداره ساتلی دی.

دغه ډول په نورو برخو کې هم که مسلکي ژورنالېستان د پېښنو جریان په ښه شکل سره وڅاري، نه یوازې دا چې ټولنه به د بریالیتوب پر لور قدم ووهي؛ بلکې د ناسور په څېر د ټولنې لپاره خنډ جوړوونکي خلک به هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل عمل په بدو پایلو پوهـ شي؛ ځکه ولسواکه ټولنه کې رسنۍ د هېواد څلورم ځواک ګڼل کیږي، نو له دې لارې مسلکي ژورنالېستان کولای شي یو له بل سره نږدې اړیکې وپالي.

مسلکي کسان د مسلکي چلند سبب شي، چې دغه دواړه بیا ولس ته د رښتیني خدمت ترسره کولو جوګه ګرځي؛ ځکه مسلکي کسان د خپلې ټولنې او مسلک ټول اصول، قواعد او کړنې په ښه ډول پاللی او ساتلی شي.

له بده مرغه اوس وخت کې ډېری رسنۍ دغه تشه شته (چې تر څلور کلن او آن دوکتورا پورې د ژورنالېزم زده کړه په کې ترسره کیږي) یواځې په خبر او راپور خلاصه کوي؛ حال دا چې د ژورنالېزم په یوې- یوې برخې مونوګرافونه او تېزسونه لیکل کیږي او په میاشتو- میاشتو ورباندې تدریس کېدای شي.

هغه کسان چې یواځې د ژورنالېزم د کلیمې سره اشنا دي، یا یواځې د خبر او راپور له کلیمې سره بلد شوي، خو نور په دې نه پوهیږي چې ولس څه ته اړتیا لري او دا ورته څه کولای شي؟

مسلک راته د کومو کړنو د ترسره کولو او نه ترسره کولو امر کوي؟

دغه نه پوهېدل نېغ په نېغه د دوی په نامسلکیتوب باندې دلالت کوي او دوی نشي کولای چې د ولس غوښتنو ته سم ځواب ووایي او یا هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی غوښتنې درک کړای شي، نو ډېره مهمه ده چې رسنۍ د مسلکیتوب اصل ته په کلکه پاملرنه وکړي.

د مسلکي اشخاصو لاسته راوړنې په لویه کې ځینې په لاندې ډول ښودلی شو:

- ✓ د دیني زده کړو خپراوی کیږي
- ✓ واقعیتونه بیانیږي او باطل سره د حق توپیر پېژندل کیږي
- ✓ د عقلانیت او علمیت چوکاټ برابریږي
- ✓ له ظالمه د مظلوم د حق پوښتنه کیږي
- ✓ خیر او ښېګڼې لور ته خلک بلل کیږي
- ✓ خلک یووالي او وحدت ته هڅیږي
- ✓ سموالی او رغون رامنځته کیږي
- ✓ ټولنه کې د اختلافاتو او د فساد د خپرېدلو مخنیوی کیږي
- ✓ د وګړو ترمنځ همکاري زیاتیږي او عمومي مصالحو ته پاملرنه کیږي
- ✓ خصوصي حریم پېژندل کیږي او د خلکو حقوق رعایتیږي

او بلاخره د دوی په شتون سره ټولنه کې رسنۍ له بې کچې اعتماده برخمن کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مسلکي افراد څوک دي؟

هغه چې یوه برخه کې لوړې زده کړې ترسره او په منظمه توگه په همدې ډگر کې د نظري زده کړو ترڅنگ عملي برخه کې تجربې ترلاسه کړې وي؛ ځکه نظري زده کړې وړتیا او عملي کار بیا تجربه انسان ته ښښي.

کله چې یو کس یوه برخه کې هر اړخیزه زده کړه په مسلکي بڼه وکړي، نو د دندې ترسره کولو لپاره لېواله وي او لېوالتیا یې د دې سبب گرځي، چې دا شخص نه یواځې د کار له پلوه ادارې ته مثبت تمام شي؛ بلکې اداره به هم په کم وخت، لږ لگښت او منظم ډول خپلو موخو ته رسېدنه وکړای شي.

نو دغې مهموالي ته په کتو اړینه ده، چې په رسنیزه برخه او هره اداره کې مسلکیتوب اصل ته په کلکه پاملرنه وشي.

د مسلکیتوب اصل د هغه بنیادي زده کړو له مهارت څخه عبارت دی، چې د کار په ډگر کې د کارکوونکي توان او د کار ترسره کولو نقشه په گوته کوي. بیا نه یواځې په اسانۍ سره د پلان په نقشې تگ کېدای شي؛ بلکې د عمل په ډگر کې هم د ټولو پېچومو په هوارتیا کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مسلکیتوب څنګه رامنځته کېدای شي؟

له هرڅه وړاندې باید د رسنۍ په راس کې مسلکي کس وټاکل شي. د رسنیو قانون په ۳۸ مې مادې درېیم جز کې مسلکیتوب باندې ټینګار شوی دی.

په دغه برخه کې راغلي، چې د رسنیو مسوول مدیران باید د مسلکي زده کړو سند له ځان سره ولري. د همدې شرط په اساس زموږ ډېری رسنۍ تر پوښتنې لاندې راځي.

د افغانستان په څېر هېواد کې رسنیز ډګر په بشپړ ډول د نامسلکو له شتونه نه شو پاکولی، البته دا کېدای شي چې کچه یې ټیټه شي.

مسلکي کسان ډېرې لارې لري، څو له مخې یې د نامسلکو لاس لنډ او کاري ونډه یې ټیټه شي.

کله چې یو کس څلور کاله یو ډګر کې په ژمن ډول زده کړې ترسره کړي، د دې اهلیت او ظرفیت پیدا کوي چې په اړونده مسلک کې بریالۍ دنده ترسره کړي.

نو د همدې له مخې کله چې یو څوک غواړي ښه مسلکي ژورنالیست شي، باید له ټولو وړاندې ټینګه اراده، پرځان باور او تر ټاکلې مودې (چې لوړو زده کړو وزارت مشخص کړی) زده کړې ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مهال د دولتي پوهنتونونو سربېره په خصوصي پوهنتونونو کې هم د ژورنالېزم پوهنځي شتون لري، چې د دې شتون موږ ته د نامسلکیتوب په منځه وړلو کې ډېره مرسته کولای شي.

د پوهنتون استادان باید له لومړي کال څخه خپلو زده کړیالانو ته دا انګېزه ورکړي، چې رسنیو کې کار وکړي او د همدې استادانو له خوا دې د مسلکي طرحو او همکارۍ په ملاتړ د رسنیو له بېلابېلو مشرانو سره خبرې وشي، څو زده کړیالان یې د نظري زده کړو سره عملي تجربه هم ترلاسه کړي.

دا کړنه څو ګټې لري:

لومړۍ یې دا چې له معاشه پرته د نامسلکو اشخاصو دنده به همدغه مسلکیان مخته وړي.

دوهمه دا چې مسلکي ژورنالېستانو لپاره به د فارغېدو سره په عملي برخه کې هېڅ ستونزه پاتې نه وي؛ په دې مانا چې دوی به خپله نظري او عملي برخه غني کړې وي، چې بیا به په ملي او نړیواله کچه د دندې ترسره کولو ښه جوګه اوسي.

درېیمه ګټه یې خپله رسنیو ته ده، چې د دوی پرمټ کولای شي معیاري نشرات خلکو ته وړاندې او په رسنیز بازار کې د سیالۍ بریا په خپل نوم کړي. هره رسنۍ باید د ښو خپرونو لپاره د تقرر معیار مسلکیتوب وټاکي. کله چې دغه کړنه ترسره شي، نو نامسلکي وګړي دا جرئت نه شي کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپل اسناد د ذکر شوي بست لپاره جمه کړي؛ ځکه هلته له وړاندې لومړيتوب مسلکيتوب ښودل شوی دی. په دې سره رسنۍ معياري او په خپل ډګر کې لومړيتوب خپلوي.

د مسلکيتوب رامنځته کولو بله غوره لاره دا ده، چې هېواد کې د زونونو په کچه د مسلکي ژورنالېستانو ټولنې رامنځته شي، چې دغه ټولنې بيا بېلابېلو رسنيو سره د قرارداد او ښو اړيکو پر بنا مسلکي وګړي د کار کولو په موخه وروپېژني.

دا کړنه د مسلکي وګړو لپاره ډېره ګټوره پرېوځي؛ ځکه هر کله چې د غير قانوني کړنو د مخنيوي لپاره په متحد ډول يو ځواک رامنځته شي، نو په ډګر کې د غير قانوني کړنو د ترسره کولو جرئت له منځه ځي، چې دې سره به په تدريجي ډول ټول رسنيز ډګر قانوني او مسلکي وګړو ته پاتې شي.

عامه پوهاوی د مسلکيتوب د رامنځته کولو لپاره بله غوره لاره ده، چې پرې د نامسلکيتوب مخنيوی کېدای شي.

دا بايد ومنو چې زموږ د ټولنې فکري او تعليمي کچه د نړۍ په پرتله ټيټه ده، نو د نامسلکيتوب د زيانونو او د مسلکيتوب د ګټو په اړه د پوهېدو لپاره ټولنه کې عامه پوهاوی په کار دی، څو په دې سره ټولنه کې د مېشتو وګړو ذهنونه خلاص او خپل مکلفيت ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عامه پوهاوي په دې برخه کې د رسنیو سربېره د جوماتونو امامان، دیني عالمان، نفوذ لرونکي قومي مشران او تعلیم لرونکي وګړي د دې برخې په ترویج کې پوره مرسته کولای شي. کله چې د یوې برخې په اړه ټولنیز شعور لوړ شي، نو د دغو غیر معیاري کړنو د مخنیوي کار هم همدغه وګړي په ښه ډول ترسره کولای شي.

دا د دې لپاره هم اړینه ده، چې تاسې په چارو کې د مسلکي چلند پر لور رهبري کړي.

مسلکي اشخاص د خپل مسلک په څواک کولای شي، د رسنیو پر مټ د اوږد مهال لپاره عامه ذهنیتونه د ټولیزو ګټو پر لور مخ پر وړاندې بوځي.

دغه ډول مسلکي کسان دا توانایي لري، چې د رسنیو پرمټ د ټولنې افکار په سم ډول بسیج کړي.

دا هغه څه دي، چې موږ ته په ټولنه کې د مسلکي ژورنالېستانو اغېزمنتوب په ګوته کوي. که چېرته له دې څواک څخه په مسلکي توګه سمه ګټه وانه خېستل شي، نو ممکن ټولنه د فکري، اخلاقي او نورو حالاتو له مخې د تاریکۍ، تباهۍ او بربادۍ لور ته لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایله

دلته یوه خبره د رسنیو او بله هم د کارکوونکو (ژروناليستانو) ده.

که د رسنیو په اړه بحث وکړو، نو تېر وخت کې د رسنیو حکومتي برخې پورې تړل او يو اړخيز نشرات کول هغه څه وو، چې د رسنیو لپاره يې ټولنه کې يو څه منفي ليدلوری رامنځته کړی وو.

رسنۍ د یوې ټولنې په رغَوَنه کې خورا اغېزمن رول لري؛ ځکه رسنۍ مسوولیت لري څو د هغو موادو د نشر هڅه وکړي، چې ټولنې لپاره گټور وي او ورته زیانمن واقع نه شي.

د هېواد په رسنيز بازار کې اوس مهال په زرگونه ليکوالان، ژورناليستان، تخنيکي کارکوونکي او د نورو برخو چلوونکي په کار بوخت دي.

که د یوې خپرونې یا رسنۍ چلوونکی خپله روښانفکره وي، نو مخاطبين به يې هم طبعاً اکثره د همدې قشر اړوند خلک وي، خو د هېواد پر روښانفکره قشر د رسنيو تاثير بيا هغه شان نه دی؛ لکه پر عوامو چې دی.

رسنۍ د عوامو پر ذهنيت ورو- ورو تاثير کوي او که چېرې رسنۍ مثبت او یا منفي ليدلوری ولري، نو دا تاثيرات هم پر هغوی ورو- ورو اغېز کوي، چې يو اوږد زماني واټن غواړي.

د دې يو علت دا هم دی، چې زموږ د رسنيو ژبه د عوامو له ژبې څخه تر يوځايه توپير لري، خو دا تاثيرات بيا پر روښانفکره قشر جوت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زموږ ازادې رسنۍ روښانفکره قشر په هغو بېلابېلو ډلو پورې تړلي، چې خپل ذهني تمایلات لري. په ځینو برخو کې کېداى شي دا ذهني تمایلات خپلواکې زېرمې ولري، خو تر ډېره دا فکرونه له بهرنیو سرچینو الهام اخلي.

طبیعي خبره ده چې د دوى له خوا سمبالېدونکې رسنۍ هم د دې ډول افکارو خپرندوېې دي. دا هغه جریان دى، چې یو شمېر تحصیل کړي اشخاص یې پر خپرولو بوخت دي او یو شمېر نور بیا د دې جریان پر ضد خپل فعالیتونه کوي.

په دې ډول د هېواد د روښانفکره قشر یوه زیاته برخه له رسنیو څخه د خپرېدونکو متضادو فکري جریانونو په رفع او دفع بوخت دي.

خو په دې منځ کې ځینې داسې ازادې رسنۍ هم شته، چې د خپلواکو شخصیتونو له خوا خپرېږي، جانبي عوارض یې کم او ګټې یې زیاتې دي. دا ډول رسنۍ د هېواد د ټولو قشرونو په ذهني جوړښت کې کارنده ونډه اخلي او د ملت د ویښتابه سبب ګرځي.

دې ډول رسنیو د هېواد د ډېر شمېر روښانفکرو د ذهني سطحې په ښېرازۍ کې هم ښهٔ رول ادا کړى او ادا کوي یې.

که دغه ډول رسنۍ نه واى، د هغو نورو رسنیو مخ نیونه به ډېره ستونزمنه وه، چې د ازادو رسنیو په نوم نشرات لري، خو په واقعیت او حقیقت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د ازادۍ فکرونه او خپرونې د بېلابېلو خواو له لوري ولچک او ځولانه وي.

په مجموعي ډول زموږ له رسنیو څخه د هېواد روښانفکره قشر زيات اغېزمن شوی او اغېزمنيږي. دا اغېزمنتيا په مثبت او منفي دواړو خواوو کې محسوسه ده، چې د همدې روښانفکرو له لارې عامو وګړو ذهنونو ته هم تکثر کوي.

ډېری وخت د حکومت درې ګونی ځواک د رسنیو تر سخت فشار لاندې راځي.

د ملي شورا یا ولسي جرګې د زورواکو غړو له خوا خو بیخي خپل سیال او رقیب ګڼل کيږي.

د ځينو نامسلکو له لوري دغو زورواکو سره معاملې او ډیلونه بیا د دې سبب کيږي، چې د دوی په ډېری ناقانونه او ناروا کړنو باندې د خاموشۍ ګوته په شونډو کېښودل شي.

دغه ډول دې برخه کې له قومي نسبت څخه هم ناوړې ګټې اخیستنې ته زمینه برابريږي او یو شمېر رسنۍ له دې لارې خپل مخاطبین د ځان ترڅنګ دروي.

خو که چېرته د مسلکي کادرونو په شتون سره رسنۍ وانګېرو، نو په عام ډول بیا همدا رسنۍ وي، چې د دغه ډول خلکو ناممکن هوسونه مهار او په عامو نیوک کوونکو په منځ کې هم د جرئت جذبه پیاوړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجراییه قوه هم د مسلکي کادرونو په شتون سره نه شي کولای له قانونه دباندې خپلو کړنو ته سرایت ورکړي.

مسلکي کارکوونکي رسنیو کې پرته له معاملې، وېرې او اړیکې په مسلکي مهارت سره د ټولنې او په کې د شته مظلومانو غږ بدرگه کوي، چې له دې امله هېڅ اجراییه قوه نه غواړي، څو نوم یې د قانون ماتوونکو او زورواکو په ډله کې خپور شي.

رسنیو کې مسلکي خلک د بحثونو، گردي مېزونو او نورو خپرونو له لارې د مامورینو او کارکوونکو د فساد، تخطۍ او درغلۍ څخه پرده پورته کوي، چې له دې وېرې هم په د دې قوې په چوکاټ کې داخل کسان د فساد کچې ټیټوالي لپاره ځانته متوجې کیږي.

قضایه قوه چې ټولنه یې له نورو ډېر په فساد کې ښکېل بولي، د رسنیو او مسلکي کسانو له وېرې د فساد په کولو کې له سخت احتیاطه کار اخلي.

د دوی ډېری علني غونډېو ته همدا رسنۍ ژوندی پوښښ ورکوي، چې ټولنې او په کې اوسېدونکو ته غل او مل په ښکاره پرې جوتېدای شي.

رسنۍ چې د نوښتونو او پنځوَنو د ایجاد او تخلیق منشا گڼل کیږي، باید دغو او ورته نورو نکتو ته د ښې پاملرنې لپاره له نامسلکیتوب څخه وژغورل شي. په دې ډول به رسنۍ د خلکو په ژوند کې د بې ساري پرمختگ او نوښتونو له کبله مثبت بدلون رامنځته او په حقیقي توگه به د پرمختگ او فکري بډاینې سرچینه وگرځي، خو که چېرته دې برخو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غفلت څخه کار واخېستل شي، نو د یوې شېبې غفلت به یې ټولنې ته د ویجاړۍ، غلامۍ او ورانۍ سبب وګرځي.

زموږ د ټولنې ۹۹ سلنه وګړي مسلمانان دي، نو کوم مسوولیتونه چې باید رسنۍ یې د دغې هېواد وګړو ته د خپرونو او نشراتو پرمهال پام کې ونیسي، ډېره کچه یې باید اسلامي بڼه ولري. په دې سره د فساد له خپرېدلو هم تر ډېره بریده مخنیوی کیږي، نو مهمه دا ده چې رسنۍ باید د ټولنې اخلاقیاتو ته ځانګړنې پاملرنه وکړي او دا هغه چاره ده، چې د مسلکیتوب په شتون سره ترسره کېدای شي.

په دا ډول خپرونو سره مسلکي کسان ټولنه کې خلک د فساد خپرولو له خطرناکو پایلو، عواقبو او زیانونو څخه په ښه ډول خبرولای شي.

د رسنیو مشران باید د تقرر پرمهال معیار مسلکي زده کړې وټاکي؛ ځکه مسلکي خلک تل په دنده کې نوی فکر، نوې سوژې او مسلکي طرحې وړاندې کوي او په همدې سره مخ پرودړاندې ځي.

د اماتورو کارکوونکو له لوري د شپې او ورځې بې ګټې خپرونو پرځای باید د ژورنالېزم په ښو معیارونو برابرې مسلکي خپرونې خلکو ته وړاندې شي، څو ګټه ترې پورته او مسلکي رسالت پرځای شي.

دا د دې لپاره هم مهم دی، چې رسنۍ تر ډېره بریده د خلکو پر ژوند اغېز کوي. د دغو رسنیو پرمټ د ټولنو او وګړو دوامدارې ترېګنۍ او دښمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای ته رسېدلي؛ ځکه پر رسنیو د خلکو ډېر باور دی، چې دا باور په مسلکي بڼه د ټولنې په ناخوالو او ستونزو منعکس کولو کې نغښتی دی.

رسنیو په تېرو کلونو کې د خلکو د ژوندانه او ستونزو په باب په لکونو راپورونه خپاره کړي، خو بیا هم هغه ډول چې رسنۍ نورو ټولنو کې د خلکو پر ذهن واکمني کوي، دلته لا هغې مرحلې ته نه دي رسېدلي؛ ځکه دلته لا هم اړتیا ته په کتو د مسلکي او تجربه لرونکو کادرونو شتون کمرنګه دی.

بل یې کېدای شي علت د ټولنې د اکثریت نالوستوب او د رسنیو نوی توب وي، چې دې برخه کې اوس یو څه هڅې شوي. د تعلیم کچه لوړه شوې او د فکري ازادۍ حق د ټولنې هر قشر ته ورکړل شوی دی.

د ژورنالېزم مسلکي کادرونو په پنځېدو سره باید مسلکي خلک ازادۍ ته په پام سره د قانون سره سمې خپرونې ټولنې او خلکو ته وړاندې کړي.

د ټولیزو اړیکو د وسایلو قانون د څلورمې مادې په لومړۍ فقره کې هم دې برخې ته اشاره شوې ده.

دغه برخه کې راغلي چې:

((هر شخص د فکر او بیان د آزادۍ حق لري. د چارواکو لخوا له لاسوهنې، محدودیت او تهدید پرته د قانون د حکمونو په حدودو کې د مالوماتو، اطلاعاتو او نظریو غوښتنه، ترلاسه کول او لېږدول په دې حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې شامل دي، همدارنګه په دې حق کې د مالوماتو د خپرولو، وېشلو او ترلاسه کولو د وسایلو آزاد فعالیت هم شاملیږي.))

دغه ډول د همدې قانون د دوهمې مادې په شپږمه فقره کې صراحت شوی چې:

((د ټولیزو اړیکو د وسایلو له سالمې ودې سره د مرستې په منظور په داسې ډول چې دغه وده وکولای شي په هېواد کې د کره خبرونو، اطلاعاتو، زده کړو او روزنو د خپرولو، د علم او ثقافت د غوړېدلو اغېزمن وسایل وګرځي او د خلکو نظریې له ژورنالېستیکي معیارونو، اصولو او ارزښتونو (صداقت، ناپلوی او توازن) سره سمې منعکس کړي.))

د قانون دغو مادو ته په پام سره ټولې رسنۍ، برېښنایي (راډیو، تلوېزیون، کیبلي او انټرنټي شبکې)، چاپیزې رسنۍ (ورځپاڼه، جریده، میاشتنۍ، مهالنۍ (تقویم)، فصل نامه، کلنۍ، پوسټر او خبرنامه) باید د ټولیزو اطلاعاتو د قانون په نظر کې نیولو سره خپلې نشرات ترتیب او وړاندې کړي.

دوی باید هغه اخلاقي ژمنتیا هم په نظر کې ونیسي، چې په رعایت سره یې ټولنې ته خیر رسیږي. دا چې زموږ د ټولنې ۹۹ سلنه خلک مسلمانان دي، نو د اسلام مبارک دین د ممانعو رعایت په کې باید وشي.

**بله** برخه د کارکوونکو ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکوونکي (ژورنالېستان) باید د هرې پېښې سره د احساساتي چلند پرځای مسلکي چلند وکړي، خو د ناڅاپي پېښو په اړه باید هر ډول چمتووالی ولري.

د پېښې په ځای کې باید له خپلې تجربې، مهارت او مسلکیتوب څخه کار واخلي.

ځینې نامسلکي کسان دغه چاره ډېره عادي بولي او دې برخه کې سرعت ته په لومړیتوب سره یو ستر رسالت او مسوولیت تر پښو لاندې کوي.

مسلکیتوب او وظایفو ته په صداقت او درنه سترګه کتل شخص د هدف لوړو پوړیو ته رسوي.

کله چې یو څوک غواړي ښه مسلکي ژورنالېست شي، باید لومړی ټینګه اراده، پرځان باور او تر ټاکلې مودې (چې د لوړو زده کړو وزارت مشخص کړې) زده کړې ترسره کړي.

مسلکي کسان د خپلې پوهې او مهارت څخه په ګټې اخېستنې یو داسې مهالوېش ترتیبوي، چې د بل مسلکي مسوول کس په راتګ سره یې هم ترتیب شوی مهالوېش او چارې له فکري او مسلکي پلوه له پامه نه غورځول کیږي.

که چېرې مسلکي اشخاص په رسنیو کې په دندو وګمارل شي، د ستونزو حل لپاره به د مسلکي برخورد او مسلکي تدابیرو په نیولو سره ولس له فکري یرغله وژغورل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هره غوښه د خوند، شخوند او بوی له اړخه بېلې ځانګړنې لري؛ له چرګه د پسه او له پسه د چرګ ورېم نه پورته کېږي.

د مسلکي ژورنالېستانو، مشرانو او استادانو له لوري دې هغو رسنیو سره ناستې وشي، چې د نامسلکو کسانو په ګمارنو او خپرونو وړاندې کولو سره حساسیتونه پاروي او د ټولنې خرابۍ ته لمن وهي.

له دوی څخه دې په هره برخه کې ژمنې واخېستل شي او بېرته دې د وخت په تېرېدو دغه ژمنې وڅارل شي.

دوی ته دې قناعت ورکړل شي، چې د مسلکي کارکوونکو په شتون یې رسنۍ نه یواځې پرمختګ کوي؛ بلکې د سیمې او هېواد پرمختګ کې هم ډېر اغېز لرلای شي؛ ځکه رسنۍ د یو هېواد په پرمختګ کې ژور او بنیادي رول لري.

افغانستان کې ژورنالېزم خورا سخت او پېچلی مسلک دی.

ژورنالېستان تل له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. د خبریالانو د ټولنو او خبریالانو ترمنځ څنځیري اړیکو ته اړتیا ده. دا له موږ سره د حقایقو په پلټنه او د ګواښونو پر وړاندې په ګډه دفاع کې مرسته کوي.

له دې لارې دا هم کېدلای شي چې کلتوري او ښوونیزه برخه لا نوره پیاوړې شي او مسلکي کسانو کې دا وړتیا ځای پرځای شوې وي، چې خپلو لیدونکو او اورېدونکو ته دغه ستر مسوولیت په ښه ډول سرته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زده کړې په برخه کې کله- کله ځینې کړنې، هڅې او څارنې ولس ته خوږو کې د زهرو ورکړه وي؛ ځکه د ځان او ټولنې نوم لوړاوي او خپراوي په جنون هره کړنه تجربه کیږي. که په بېلګو پسې لاړ شو، نو په میاشتني کورسونو کې د مسلکي کسانو پرځای د نامسلکي خلکو روزل یې ښه مثال دی، چې دغه روزنه ولس او مسلکي خلکو ته د ځورونې لار خلاصوي او اماتوران یې نه یواځې خپل شخصیتونه لکه ګاز هوا ته پورته کوي؛ بلکې د مسلکیانو په مسلکي جسم هم سم لکه د سرطان دانه ګرځي؛ ځکه روڼ مسلک توروي او دُودُونه او ګردونه یې بیا د خوار ملت زړونو او مخونو ته لارې کوي.

د مسلکیانو ځای نیول کیږي او حق یې په نورو خوړل کیږي؛ دغه ځای دی چې ځانته ویلو استادانو په لوی لاس مسلکي فساد ته دروازې پرانیستي او د مسلک ښکلی ډګر یې نه یواځې په خپلو ناپوهو لوبغاړو په بې رحمۍ ځپلی؛ بلکې دغه له خونده ډک مسلک یې د جنګ په ډګر بدل کړی.

په څو میاشتني کورسونو او عملي کارونو یو څوک مسلکي ژورنالېست کېدای نشي.

د لیسې زده کوونکي یا د بل مسلک زده کړیال او فارغ ته د څو میاشتنۍ زده کړې له امله په ټولې مسلکي برخې د بادشاهۍ خیالي تاج په سرول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغوی له لوري بیا لکه لیدل شوی فلم؛ ناخبره او نابېره هر ډُول او هر ډیالوګ ته ګرېوانونه شکول خورا مسلکي ستونزې زېږوي.

دغه اماتوران بیا اړ دي، چې رسنیو کې پرته له کوم مالي امتیازه لاسوـپښې واچوي او ګڼ شمېر غیر اخلاقي، غیر انساني او غیرمسلکي کړنو ته زړهٔ ښه کړي، خو په مقابل کې یې بیا د همدې ډګر مسلکي او وړ شخص د داسې کړنو نه ترسره کولو له امله په کور ناست وي.

له کېفیته خلاص دغه چینایي مالونه د ټولنیز رسالت په رسولو کې عاجز او ټولنه د ښې رهبرۍ پرځای په بلا کږلېچو او ناسمو لارو بیایي.

له همدې امله خو نن د ژورنالېزم ترڅنګ په ګڼ شمېر نورو مسلکونو هم د خلکو اعتبار کم شوی؛ ځکه دوی د یوې برخې په خبرېدو په ټوله مانا مسلک باندې د پوهېدو ټېر وهي، خو د مسلک له سمندري ژوروالي او اسماني لوړوالي ناخبره پاتې. آن له یوې برخې هم بشپړ اګاهـ نه وي؛ یانې که د تفریح له مفهومه اماتور صاحبان وپوښتل شي، ممکن همدومره ووایي، چې:

((خندا، سندره او ټوکه))

دلته دوی له طنزونو او په کې له شته چوکاټونو ناخبره وي.

او که له تفریح په پوهه کې لږ وړاندې تللي وي، نو ایله تر اطلاعاتي ژانرونو ورسیږي، حال دا چې دې مسلک کې د اطلاعاتو سربېره نور ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



قالبونه، چوکاټونه او ژانرونه شته، خو هغه کسان چې مسلکي نه وي، له هغو نورو مسلکي اصطلاحاتو ناخبره او عاجز پاتې وي.

د مسلکي کادرونو له لوري ډېرې وخت د نامسلکي کسانو په روزونکو هم نيوکې کيږي. دوی دغه روزونکي په مسلکي فساد ککړ بولي، چې په خبره يې مسلکي کسانو سره د خبرو او بحث جرئت نه لري او د مسلکونو په چغو او فريادونو هم ړانده او کاڼه دي؛ ځکه خو په دغه کړنه کې له ماشومانو کار اخلي او ګرم هم نه دي؛ ځکه ړانده خلک ډېرې وخت د ماشومانو په اوږو ځانونه تر ټاکلو موخو رسوي.

دا بايد ومنو، چې رښتيا ترخه وي او که دغه ترخه لکه د ملريا ګولۍ د دوی د خولې خوند خرابولو سبب ګرځي، خو د مسلکي صحت او تندرستۍ له امله ورته دا دوا اړينه ده، چې بايد مجبوراً يې اورېدو ته پلتۍ ووهي.

که چېرته د کتابونو په څېر اوږد ژوند او غوره حېثيت ګټل غوښتل موخه وي، نو دغه کسان دې د مسلکي فساد او د ځورېدلې روزنې ختمولو لپاره هره برخه کې په مسلکي خلکو کار وکړي او په خپلو اړوندو څانګو کې دې ورته مسلکي روزنه ورکړي؛ يانې د ژورنالېزم زده کړيال په عملي ډګر کې بايد په بېلابېلو پروګرامونو ونازول شي، د حقوقو زده کړيال په ډيپلوماتيکو اصولو، اصطلاحاتو، د محکمو تمثيل او د حالاتو د څارلو او تحليل لپاره د بېلابېلو ورکشاپونو، کنفرانسونو او سيمينارونو پر مټ په تخنيکي او مسلکي توګه وروزل شي. دغه ډول د کمپيوټر ساينس زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړیال سره هم د ډېټابېس، سافټویرونو او نورو د اړتیا وړ مسلکي توکو په پوره کولو، جوړولو او زده کولو کې کار وشي، نو لرې به نه وي چې په رښتینې او منظمه بڼه به دغه روزنه د دې دردېدلي ولس د درد لپاره دوا وګرځي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځلیکونه


1. قران کریم
2. احادیث
3. اساسي قانون
4. اطلاعات او کلتور وزارت
5. افغاني اوسنۍ رسنۍ، لیکوال : پوهان دوکتور محمد اسمعیل یون ماسترۍ تېزس، چاپ کال ۱۳۸۱
6. بخاري شریف، ابو عبدالله محمد بن اسماعیل البخاري رح، ژباړن: فقیر محمد عباس قادریه.
7. تفسیر ابن کثیر، تالیف حافظ عماد الدین ابن کثیر، ژباړن، مشتاق مجروح یوسفزی، تاج کتبخانه قصه خانه پېښور.
8. ټولیزو اړیکو قانون
9. د افغان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، ۱۳۹۳ هـ ل.
10. رسنیو قانون
11. د هېواد له بیلابېلو ولایاتو او مرکز کې د رسنیو مشرانو سره مرکې
12. د هېواد په کچه مسلکي کادرونو سره مرکې
13. کورنیو او بهرنیو استادانو سره مرکې
14. نامسلکه او اماتورانو څخه پوښتنې او ورسره مرکې
15. روحانین، علماء او روښانفکرانو سره مرکې
16. د رسنیو مخاطبانو او لیدونکو ترمنځ ټولپوښتنې
17. نظریة الحق والالتزام، لیکوال: دوکتور و وهبة الرحیلي ...... .....

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library